

کود قاتل
(ناول)
Ketabton.com
لیکوال: فیض الله امین
کال: ۱۳۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | ګوډ قاتل |
| لیکوال | فیض الله امین |
| کال | ۱۳۹۹ |
| فیسبوک پته | https://www.facebook.com/hafizollahamin.patan |

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# ډالۍ

ټولو د علم،پوهي او ادب مینوالو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مازدیګروو،د څلورو خړو دیوالونو له منځه د ډزو اوازونه پورته شول ، د ټوپک له خولې درې مرمۍ بهر شوې ، له چنارونو مرغیو او بلبلانو د اسمان پر لور وزرې وړپولې ، په کلي کې وېره خواره شوه ، ټولو د خیر دعاګانې کولې ، یوه ډله خلکو چې د جومات ملاامام هم ورسره وو د یو کور په لور منډې کړې ، دروازه یې ټک ټک کړه ، د کور له ننه یو سړي په ډډ غږ اواز کړ:**

**څوک یی؟**

**ملاصیب ځواب ورکړ:**

**زه یم دروازه خلاصه کړه!**

**دروازه خلاصه شوه ، یو سړی راووت اوږده ګیره، ګرګټو ویښتان، سپین پوستکی یې درلود ، په مخ کې یې ګونځې معلومیدې ، د څلوېښت پنځه څلوېښت کالو ترمنځ وو.**

**د خلکو په لیدو حیران شو پوښتنه یې وکړه:**

**ـ څه خبره ده! ولې دومره ورخطا یی؟**

**ملا خوله خبرو ته جوړوله ، له شا څخه یو ځوان اوویل:**

**ـ زمرکه دا پوښتنه خو موږ له تا کوو ، څه خبره ده موږ د ډزو اوازونه واوریدل؟**

**ملا د ځوان سره خبره ونیوه:**

**ـ هو زمرکه ډزې د څه وې! خیر خو وو؟**

**د هغه رنګ زېړ واوښت ، شیبه غلی وو.**

**ملا هغه ته اوویل:**

**ـ وایه کنه زمرکه څه خبره وه؟**

**زمرک مسکی شو ، هغوی ته یې اوویل:**

**ـ ښه تاسو د ډزو لپاره دلته راغلی یی!**

**اول خو ما اوبخښئ ، چې تاسو مې وډار کړئ.**

**هغه داسې ده ملاصیب ، زما زوی پیداشو نو د هغه په خوشحالی کې ما ډزې وکړې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ملا موسکی شو ، له ځان سره یې اوویل:**

**ـ شکر خدایه!**

**د خلکو په منځ کې غالمغال جوړ شو ، ټولو زمرک ته د زوی پیداکیدو مبارکي ورکوله.**

**ملاصیب زمرک ته ورنږدې شو ، هغه ته یې اوویل:**

**ـ زمرکه هغه یو چا رښتیا ویلي چې افغانان پیداکیږي هم په ډزو مړه کیږي هم په ډزو ، ډېر خوښ شوم چې تاته خدای تعالی اخر هم زوی درکړ.**

**د ملا په لومړی خبرې سره ټولو وخندل ، زمرک هم موسکی شو.**

**ټول د څو شیبو لپاره د دروازې په مخ کې ولاړ وه.**

**ملا اوویل:**

**-هلی راځئ چې د خدای یادولو وخت دی!**

**ټول روان شول ، څوک د جومات په لور څوک د خپلو کورونو په لور.**

**زمرک کور ته د ننه شو ، د نهو لورگانو وروسته یې لسم اولاد زوی پیداشوی وو له خوشحالی څخه په جامو کې نه ځایده ، اوس د دوه لورگانو او یو زوی پلار وو ، اووه لورگانې یې په ماشومتوب کې د شري او ملاریا مریضیو مړې کړې وې.**

**زمرک په انګړ کې غږ کړ!**

**ـ غوټۍ لورې! وه غوټۍ!**

**غوټۍ غږ نه کوه ،زمرک بیا غږ کړ خو ځواب یې ترلاسه نه کړ ، د کوټې پرلور روان شو.**

**غوټۍ له سپین مخ او سپینو لاسونو پرته نور ټول اوجود په تور تیکري کې پټ کړی وو ، سترګې یې د ځمکې پرلور نیولې وې ، لاسونه یې پر سینه ایښي وه ، د پښو ګوتې یې قبلې ته مخامخ وې.**

**زمرک هغې ته اوویل:**

**ـ شاباس لورې ته خو د ملاصیب څخه هم مخکې لمونځ کوې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

له کوټې بهر شو ، انګړ کې د منجو څخه جوړ شوې زاړه کټ باندې کېناست ، بالښت يې ديوال ته ورنږدې کړ ډډه يې اووهله.

غوټۍ سلام وګرځوه ، لاسونه يې پورته کړل لنډه دعا يې وکړه.

جاينماز يې ټول کړ ژر د باندې اووته ، د پلار مخې ته ودريده ، شونډې يې وخوځيدې:

ـ بابا تا ماته څه ويل!

زمرک هغې ته اوويل:

ـ لورې د اوداسه لپاره بدني راته راوړه ! او بله دا چې څانګه لور او مور مې چېرته دي؟

غوټۍ پلار ته اوويل:

ـ څانګه د ګاونډيانو کره تللې ويل يې چې د ورور زيری پرې کوم ، او انا جانه مې د مور سره د ننه کوټه کې ده ، د ورور په ټرلو کې ورسره مرسته کوي.

هغه اودس وکړ ، غوټۍ ته يې اوويل:

ـلورې زما لونګی راوړه!

غوټۍ لونګی ورته راوړه ، زمرک لونګی تاوه کړه د جومات پر لور روان شو.

څو ورځې هغه ته خلکو د زوی پيداکيدو مبارکياني ورکولې ، هغه په خپل زوی باندې د ايمل خان نوم کېښود.

ايمل خان غټې شنې سترګې ، خړ ويښتان او سپين رنګ درلود.

د زمرک يوازينی ورور تراب په دوبی کې مسافر وو ، هغه د خپل وراره له پيداکيدو څخه خبر شوی وو ، له ډېرې خوشحالی يې کورته ورځ کې دوه درې ځلي زنګونه وهل ، تراب څلور کاله مخکې کوژدن کړې وه ، خو د لوړ ولور په خاطر يې له څلورو کالو راهيسې په دوبی کې د مسافرۍ شپې سبا کولې ، تر دې وخته يې د ولور نيمايي برخه پرې کړې وه ، غوښتل يې چې کور ته راستون شي او د واده لپاره تياری ونيسي.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمرک بالښت ته ډډه وهلې وه مور يې او غوټۍ د کټ لاندې په غولي باندې ناستې وې ، د زمرک کشره لور ځانګه په کټ باندې د هغه ترڅنګ ناسته وه ، په جيبونو کې يې ورته ګوتې وهلې ، د هغه تليفون ته زنګ راغی ، جيب ته يې لاس کړ ، تليفون يې راواخيست ، په لوړ اواز يې اوويل:

ـ الــو

شيبه غلی وو ، شونډې يې وخوځيدې:

ـ ترابه څنګه يې؟

هغه ارام شو بيا يې تراب ته ځواب ورکړ :

ـ شکر دی ښه دي بابو، ځانګه، غوټۍ، ايمل خان او ورپنداره دې ټول ښه دي.

تليفون يې مور ته ورکړ.

ـ بابو تراب دی غواړي له تاسره وغږيږي.

تراب له مور سره غږيدو ، هغې ته يې اوويل:

ـ بابو ما ټيکټ اوکې کړ(وکړ) ، که خير وو د جمعې په ورځ درځم او ربښتيا نن مارکيټ ته لاړم تاته مې بوټان او د لمانځه لپاره جاينماز واخيست ، بابو دعاګانې کوه چې پخير درشم!

د مور له سترګو يې اوښکې رواني شوې:

ـ زويه الله دې پخير راوله ډېر مې ياد شوی يې ډېر وخت دې اووتو.

ځانګه د بابو ترڅنګ ولاړه وه ، له هغې څخه يې تليفون غوښت ، ترهغې يې نه پرېښوده ترڅو يې چې تليفون ورکړ.

ځانګې تليفون غوږ ته يووړ ، په تتوي لهجه يې خبرې شروع کړې:

ـ داده وروړته مې موټر واخله او ماته نانځکه، جوړه، بنګړي او ژاولې.

زمرک کټ کې ناست وو ، خندل يې ،هغې ته يې اوويل: ـ لورې تاخو ټوله دوبی ترې اوغوښته!

تراب هغې ته اوويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ سمه ده زما نانځکي ، درته اخلم يې.

تراب د ټولي کورنۍ سره وغږېدو ټولو ته يې ډالۍ اخيستي وې هغه له څلور کاله او شپږ مياشتي مسافرۍ وروسته کورته راتلو د لس لکه افغانيو ولور له جملې څخه يې درې لکه افغانۍ لا هم پاتي وې خو زمرک د تراب خسر په ډېرې سختۍ سره د لور واده کولو ته راضي کړی وو.

د جمعي ورځ وه د هغه پرواز اووه بجې وو ، لس بجې د حامد کرزي په هوايي ميدان کې ښکته کېدو.

د غرمې شاوخوا لس بجې وې ، د الوتکې خدمتګار اعلان وکړ:

ـ ګرانو مسافرو موږ د ښکته کيدو په حال کې يو مهرباني وکړئ خپل قمربندونه مو وتړئ!

ټولو قمربندونه وتړل ، څو شيبې وروسته الوتکه په ځمکه کېناسته.

تراب له الوتکې ښکته شو غټه ساه يې اوويسته ، لاسونو څخه يې ستړيا اوباسله ، له هوايي ډګره د باندې اووت ، موبايل ته يې افغانۍ سيم کارت واچولو ، کور ته يې زنګ اووهه:

ـ سلام لالا زه کابل ته ورسيدم اوس له ارپوټ څخه د باندې راووتم.

زمرک ځواب ورکړ:

-وعليکم سلام وروره ، شکر چې پخير راورسيدې ،لاره کې خو مشکل نه وه ؟

ـ نه لالا هيڅ مشکل نه وه ، پخير راورسيدم.

زمرک هغه ته اوويل:

ګوره وروره! کابل کې به ډېر پام کوې غله بيخي ډېر دي او بله دا چې له ارپوټ څخه سيده د پکتيا اډې ته موټر ونيسه او هلته د پټان موټر پيداکيږي ډاربک(سيده) همدلته راشه! د ګرديز موټرو کې مه سپاريږه!

تراب وخندل هغه ته يې اوويل:

-سمه ده لالا دومره خو بلد يم پام مې دی ته بې غمه اوسه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دواړو خدای په اماني واخیسته ، تراب یو بیک شاته واچوه ، سټکېس یې په لاس کې واخیست روان شو.**

**په کور کې د هغه د راتلو لپاره تیاریانې روانې وې ،**

**غوټۍ او څانګې د کور انګړ جارو کوه ، د څانګې جارو درنده وه ، پورته کولی یې نه شوه ، له غوټۍ څخه یې د هغې جارو غوښته ، د کور دروازه خلاصه شوه ، څانګې ورمنډه کړه ، غږ یې کړ!**

**-پلار مې راغی**

**زمرک وو ، په لاس کې یې څو پلاستیکونه وه.**

**څانګې پلار ته اوویل:**

**ـ بابا ماته دې پاپړ راوړل؟**

**زمرک ټیټ شو ، څانګه یې غېږ کې ونیوه.**

**هغې ته یې اوویل:**

**ـ زه مې د نانځکې لور پاپړ کله هېرولی شم ، د واسکټ جیب ته یې لاس کړ د پاپړو خلته یې راوویسته، هغې ته یې ورکړه ، هغه له بازار څخه غوښه میوه او میټایې راوړې وه ، ډېر خوشحال وو له ډېرې مودې وروسته یې ورور کور ته راتلو ، غوټۍ ته یې غږ کړ:**

**ـ لورې غوښه مې رواړه کاکا به دې ناوخته راورسیږي ، وږی به وي ، ښه خوندوره یې پخه کړه!**

**غوټۍ ورغله ، د غوښې پلاستیک یې واخیست، پلار ته یې اوویل:**

**ـ بابا ټوماټر دې ورسره راوړل ؟**

**زمرک د هو په ښه سر وخوځوه ، هغې ته یې اوویل:**

**هغه تور پلاستیک ګورې ، همغه کې ټوماټر دي.**

**زمرک به شیبه په شیبه تراب ته زنګ وهه ، هغه ګردیز ته رسیدلی وو ، دوه ساعته لاره پاتې وه ترڅو خپل کور او کلي ته ورسیږي ، له ګردیز څخه تر پټان ولسوالۍ پورې دوه ساعته لاره ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**له هغه سره تر ګردېز پورې دوه کسان نور هم وه ، هغوی ګردېز کې ښکته شول ، تراب مخکې سیټ ته بدل شو ، ډرایور موټر ته حرکت ورکړ.**

**هغه ډرایور ته اوویل:**

**ـ لږ ودرېږه یو دوه سپرلی راواخله له تش وتو خو ، ښه ده چې لږ صبر وکړې یو څو کسان راواخلې!**

**ډرایور په زوره وخندل ، تراب ته یې اوویل:**

**ـ وروره زه له هغو ډرایورانو نه یم چې سپرلی پسې یې سترګې اوځي ، روزي رسان الله دی ، ځو اودرېږو نه ، هسې هم ناوخته دی.**

**تراب ته پرنجی ورغی ، لاسونه یې خولې ته ونیول ، په دوسمال یې خوله پاکه کړه ، شونډې یې وخوځیدې:**

**ـ بې شکه چې روزي رسان الله دی خو الله تعالی موږ ته لاسونه، پښې ، عقل او سالم اوجود د دې لپاره راکړی چې د هغه عبادت وکړو او خپلې کورنۍ ته حلاله نفاقه پرې وګټو.**

**ډرایور وخندل هغه ته یې اوویل:**

**ـ زه نور نه پوهېږم خو زموږ ملایان وایي چې روزی پسې منډې مه وهۍ.**

**د موټر ټایر په موړه برابر شو ، تراب ټکان اوخوړ ، لږه شیبه دواړه غلې وه ، تراب شونډې وخوځولې چوپتیا یې ماته کړه هغه ته یې اوویل:**

**ـ ته پوهېږې! زموږ ملایان د نورې نړۍ له عالمانو سره ډېر توپیر لري، دلته خلکو د اسلام ریښتینی مخ نه دی پیژندلی ، دوی ته اسلام یوازې په ږیره او لونګۍ کې ښکاري ، ملایان چې وایي روزۍ پسې منډې مه وهۍ دا خبره بیخي غلطه ده، موږ پوهیږو زموږ خوږ پیغمبر محمدص د مکې ، شام او نورو ښارونو ترمنځ مالونه وړل راوړل او تجارت یې کوه ، تجارت خلک د ګټې لپاره کوي او ګټه خلک د دې لپاره غواړي چې روزي پرې لاسته راوړي.**

**ډرایور د هغه خبرو ته غوږ نیولی وو ، بیا یې پوښتنه وکړه:**

**ـ ایا دا امکان لري چې له الله تعالی پرته موږ یو کار وکړو؟**

**تراب دسمال واخیست په مخ یې تېر کړ ، هغه ته یې اوویل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ـ نه دا هيڅ امکان نه لري ، بې شکه چې موږ له الله تعالی پرته هيڅ کار نه شو کولی ، خو الله تعالی موږ ته داسې نه وايي چې تاسو قرار کينئ زه درته روزي کور ته رسوم .**

**هغه فرمايي چې تاسو حرکت کوئ زه به برکت کوم .**

**که چېرته زموږ مخې ته تياره ډوډۍ ايښې وي ، موږ لاسونه په بغلو کې ټينګ ننوستي وي ، د دې لپاره چې الله تعالی موږ ته ډوډۍ په خوله کې راکوي دا غلطه خبره ده ځکه الله تعالی موږ ته لاسونه د همدې لپاره راکړې چې ويې غځوو ډوډۍ پرې راواخلو.**

**موږ ته يې دوه لاسونه راکړي ، هر لاس پنځه ګوتې لري هره ګوته څو ځايه بندونه لري ، کولی شو چې څو ځايه يې قطع کړو ، دا د څه لپاره!؟**

**د دې لپاره چې کله ډوډۍ زموږ مخې ته ايښې وي موږ لاس غځوو ، ترڅو ډوډۍ راواخلو ، کله مو چې لاس وغځوه نو ډوډۍ ګوتو کې راخلو په ګوتو کې يې سره راټلوو که چېرته مو ګوتو کې څو ځايه بندونه نه وی موږ به ډوډۍ څنګه خولې ته جوړوله؟**

**زموږ لاسونه دوه ځايه قطع کېږي يعنې دوه بندونه لري که چېرته نه قطع کيدی زموږ لاسونه سيده پاتې کيدلی ، موږ به خولې ته ډوډۍ څنګه وړله؟**

**موږ که چېرته يوازې د لاسونو، ګوتو او په هغو کې څو ځايه جوړو شوو بندونو ته اوګورو نو پوهيږو چې الله تعالی دغه د يو کار لپاره پيداکړي ، بې حکمته نه دي.**

**که الله تعالی انسان د کار او حرکت لپاره نه دی پيداکړی ، نو بيا يې هغوی ته لاسونه او پښې د څه لپاره ورکول؟**

**زموږ ملايان وايي چې مرګ په خپله نيټه دی ، له مرګه مه ډارېږئ ، زه هم دا منم ، چې کله الله تعالی اوغوښتل مرګ درته راځي ، خو الله تعالی موږ ته عقل راکړی د دې لپاره چې د ښو او بدو ترمنځ فرق پرې وکړو ، او په دې اوپوهيږو چې الله تعالی موږ ته ژوند د دې لپاره راکړئ ، چې ژوند وکړو ، نه د دې لپاره چې خپل ژوند ختم کړو.**

**تراب ډرايور ته مخ واړوه هغه غوږ نيولی وو بيا يې اوويل:**

**زه تاته يو مثال درکوم! يوځای کې اور لګيدلی ، زه ورځم ځان ورغورځوم او زه دا وايم چې مرګ خو هسې هم په نيټه دی ، دلته چې ماته الله تعالی عقل راکړی هغه د څه لپاره ؟ خو د دې لپاره ، ترڅو موږ اوپوهيږو ، چې اور انسان وژني ، موږ بايد اورنږدې نه شو ،او که بيا هم موږ اور ته ورځو نو ايا الله تعالی به د قيامت په ورځ له موږ څخه دا پوښتنه ونه کړي چې تاته ما عقل د څه لپاره درکړی وو!؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ډرايور وټوخل هغه ته يې اوويل:**

**ـ وروره نه ته ملا يې نه زه ملا يم ، دې خبرو کې ګوتې مه وهه ، هغه څه وايې چې د خدای په کارونو او د بیجلی په تارونو کې ګوتې مه وهئ.**

**تراب وخندل ، له ځان سره يې اوويل: لکه چې زما خبرو خوند ورنه کړ.**

**ډرايور ټيليفون له جيب څخه واخيست ، غوږ ته يې نږدې کړ په ټيليفون کې يې اوويل:**

**ـ الو مشره څنګه يې! غوښه مې دروانه کړې چې بل چېرې لاړ نشې ، همدلته ودرېږه ، درته به يې وسپارم.**

**تليفون يې قطع کړ ، جيب ته يې واچوه ، راډيو يې چالان کړه ، د خبرونو وخت وو راډيو کې خبر راغی:**

**(د ډنډېټان ولسوالۍ اوسيدونکي د مرکز ګردېز او پټان پر لويه لاره د غلو له شتونه سر ټکوي، دوی وايې چې په ياده لاره هره ورځ سلګونه موټر د غلو له لورې اودرول کېږي او د سپرليو پيسې او نور شيان له ځان سره وړي ، دوی په حکومت غږ کوي چې په دغه لاره دې د غلو مخنيوی وکړي)**

**ډرايور وخندل ، ويې ويل:**

**ـ دې رزيلانو ته ګوره چې دروغ وايي ، موږ هره ورځ په دې لاره ځو او راځو تراوسه مو کوم داسې څه ونه ليدل. راډيو يې بند کړه ، ميموري کارډ يې ورواچوه د نذيه اقبال دغه سندره پکې راغله:**

**(اخوا شم که دې خوا شم ولاړه يم حيرانه**

**دواړه په نشه کې دي خبر نه دي د ځانه**

**اوف اوف زه به ليونی شمه)**

**د ډرايور په اوجود کې د سندرې په اوريدو سره مستې څپې خوارې شوې ، يو دوه ځلې يې لاسونو ته چکه ورکړه.**

**تراب ډرايور ته په حيرانۍ سره کتل ، نور په خپلو فکرونو کې ډوب وو ، د خپل کور ورور او مور ليدو ته ورخطا وو ، له ډېرې خوښۍ لاره پرې نه ختميدله.**

**موټر په کله ورو او کله تېز شو ، تراب سړک ته وکتل ډېر په بد حال وو ،خوله يې وخوځيده :**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ـ توبه خدايه! څلور کاله مخکې خو دا سړک دومره نه وو خراب ، اوس خو بيخي له کاره لويدلی.**

**ډرايور يوازې وخندل نور د سندرې په نشه کې ډوب وو، لاره زياته خرابه وه هغه تراب ته اوويل:**

**ـ ستا نوم څه دی؟**

**هغه ځواب ورکړ: تراب**

**ـ ترابه! ته پوهيږې! زما ډېر ملګري دلته سيدکرم کې دي.**

**تراب وويل:**

**ـ ښه ده ، الله دې درته ژوندي لري.**

**د دوی مخکې يو بل موټر ګرد جوړ کړ ، تراب وټوخل ، شيشه يې پورته کړه.**

**ناڅاپي درب شو ، د موټر سينه ولړيده.**

**ډرايور په قهر اوويل:**

**لعنت خو دې پر داسې سړکونو شي.**

**ښکته شو ، د موټر لاندې يې سر ټيټ کړ ، تراب ورته کتل بېرته موټر ته وختو، وروسته يې اوويل:**

**فکر مې وکړ چې د کټاسارې مېرمن دې ډاډه کړه(مات کړ) خو روغ دی.**

**موټر سرعت کم کړی وو ، تراب خوبوړی معلوميده ، د يوې شيبې لپاره به يې سترګې پټې شوې خو چې کله به د موټر ټايرونه په کومه کنده برابر شول ، نو ده به هم ټکان اوخوړ ، سترګې به يې خلاصې شوې.**

**په ټوله لار همدې خيالونو او سوچونو په مخه کړی وو ، چې څنګه کور ته ورسيدم ، مورجانه مې غېږ کې نيسم ، په مخ او لاسونو يې ښکلوم ، بيا له لالا ښه ټينګه غېږه تاووم ، له ځان سره به غلی مسکی شو.**

**ډرايور تراب ته پام شو ، هغه ته يې اوويل:**

**ـ لکه چې ډېر خوشحال يې ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تراب اوویل: هونو بعد له ډېر وخته کورته ځم.**

**ډرایور وخندل او مخې ته یې کتل.**

**موټر د پولیسو له پوستې تېر شو ، ماښام تیاره په لړیدو وه ، لږ وړاندې یې ناڅاپه پام شو ، چې دوه موټرسایکلې د سړک په منځ کې ودریدې ، نقاب لرونکي وسله وال د سړک په منځ کې مخامخ د ډرایور خواته د ټوپک خوله تاوه کړه ، د ودریدو اشاره یې ورته وکړه.**

**تراب په ورخطایې سره ډرایور ته کتل ، ډرایور هغه ته اوویل:**

**ـ ولسي پاڅون کوونکې دي ، اندیښنه مه کوئ!**

**موټر یې ودروه ، خوله تړلو کسانو د دوی پر سر ټوپکې ونیوې ، تراب ته د راډیو خبر په وریاد شو او پوه شو ، چې ولسي پاڅون کوونکې نه بلکې غله دي ، د یوه غله له لاس څخه یې ټوپک ونیوه ، په دواړو غلو یې ډزې وکړې ، یو یې په پښه اوویشت ، بل یو څخه ټوپک په ځمکه ولوید ، ګوډه ګوډه منډه یې وهله ، له مخ یې دسمال اوغورځید ، بادامي سترګې یې په رانجه تورې کړې وې، ګرګتو اوږده (تاو رتاو) ویښتان یې درلودل ، پلن ببر لاسونه یې وه ، هغه تېښته کړه ، ډرایور په ځمکه پروت ټوپک ته منډه کړه هغه یې واخیست.**

**د تراب په لاس کې ټوپک وو ، لاسونه یې رپیدل ، د ډرایور لور ته یې مخ واړوه ، چیغه یې کړه!**

**ـ هله راځه چې ځو!**

**ډرایور ولاړ وو ، څه یې نه ویل.**

**هغه وروړاندې شو: هله راځه چې ځو کنه ولې ولاړ یې!؟**

**ډرایور لاسونو کې ټوپک نیولې وو ، تراب ته یې اوویل: راځه موټر ته پورته شه ځو حرکت کوو.**

**تراب د موټر په لور روان شو ، د موټر دروازه یې خلاصه کړه ، له شا طرفه پرې غږ شو!**

**ـ لاسونه دې پورته کړه ، او ټوپک په ځمکه اوغورځوه!**

**هغه په حیرانی سره شاته مخ واړوه ، ډرایور یې په سر ټوپک نیولی وو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د تراب شونډې وخوځيدې:**

**ـ ته هم د دوی سره يې!؟**

**ډرايور وخندل:**

**ـ هو که چېرته تا سرزوري نه وی کړي ، شيان دې دوی ته ورکړی وای ،بيا به ما او تا يوځای کور ته لاړ وای ، خو چې تا په دوی ډزې وکړې ، هغه زما شريکان دي نو زه کله دوی داسې پرېښودلی شم ، اوس نو ته له دې ځايه ژوندی نشې تللی ، څوک چې زموږ ښهرې اوګوري بيا يې ژوند ناممکن دی.**

**تراب ورخطا او حيران ولاړ وو ، لږ وروسته د پوستې پوليس راورسيدل ، د تراب سترګې د پوليسو په ليدو وځليدې ، زړه يې ډاډ پيداکړ ، چې ښه شوه پوليس راورسيدل ، چې کله نږدې شول ، له پوليسو سره يو کس ګوډه ګوډه پښه وهله ، د دوی په لور روان وو ، همغه کس وو کوم چې شيبه وړاندې تښتيدلی وو.**

**د پوليسو مشر د تراب په ليدو سره په زوره وخندل ، ګوډ سړي ته يې اوويل:**

**ـ ښه بازه دې په تاسې ډزې کړې وې!؟**

**قومندان د تراب مخې ته ودرېد.**

**تراب هغه ته اوويل:**

**ـ قومندان صيب دوی غله دي ، غوښتل يې چې زما شيان واخلي ، ډرايور هم ورسره دی.**

**قومندان په رشخند سره اوويل:**

**ښه دوی غله دي! بس ته بې غمه اوسه ، زه به يې پل چرخي زندان ته درته وليږم.**

**قومندان غږ کړ!**

**ـ بازه دلته رانږدې شه!**

**باز ګوډه پښه وهله ، ترڅنګ يې ودريد.**

**قومندان هغه ته اوويل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ دې سړي څنګه دا جرات وکړ ، چې پر تاسو ډزې وکړي؟ په دې خبرې سره د تراب په زړه کې کړنګ شو ، رنګ یې ژېړ واوښت ، هغه ته معلومه شوه ، چې پولیس ډرایور او غله ټول سره یو لاس دي ، د ناهیلۍ کندې ته وغورځید په زړه کې یې تېره شوه چې نور یې د ژغورلو چانس نشته ، د پولیسو قومندان غټ ببر ویښتان او شاخ برېتونه درلودل ، یو قدم شاته شو ، تراب ته یې په ګېډه کې لغته ورکړه ، قومندان ډرایور او ګوډ باز د سوکانو او لغتو ګذارونه پرې وکړل ، ترهغې چې ښه پرې ستړي شول.

د هغه له خولې ځګیروي وتل دوی ته یې زاری کولې:

ـ خیر دی ما ، مه وهئ ، هرڅه درسره واخلئ ، ما پرېږدئ چې کور ته لاړ شم.

باز ورنږدې شو ، خوله یې خلاصه کړه:

ـ کور ته خو به خامخه ځې ، نه ربښتیا ځې به نه ، وړل کیږی به.

تراب هغه ته اوویل:

ـ خیر دی ما پرېږدی کور کې مې مور راته په تمه ده.

باز وخندل ، ترې پورته شو.

د هغه جیبونه یې ولټول ، پنځوس درهم او اته زره افغانۍ یې له جیبه ترې اوویستې، تلیفون او نور هغه شیان چې د کور لپاره یې اخیستي وه ټول یې ترې واخیستل.

باز له ډرایور څخه ټوپک واخیست ، د هغه په سر یې کېښود.

د تراب زنې لړزه کوله، د بې وسه انسان په څېر یې له دوی څخه د خلاصون خیرات غوښت ، له بدن یې دم دوک ختلی وو ، سترګې یې ردې راوتلې وې مخې ته یې مور او کور تاویدل.

بیا یې اوویل:

ـ خیر دی ما پرېږدی چې کور ته لاړ شم.

باز ګوتې ته زور ورکړ ، په هغه یې ډز وکړ ، تراب ولویده ، له سترګو یې غټ رانه څاڅکي پر خړه ځمکه پرېوتل ، سترګو ته یې د مور څلور کاله پخوانی انځور تاویده راتاویده ، وروستی ساه یې اوویسته. سترګې یې سره ورغلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

**زمرک په اندېښنه کې وو ، تراب باید کورته وختي رسیدلی وای ، درې ساعته کېدل چې هغه ته یې زنګ وهه خو تلیفون یې بند وو.**

**د کور ټول غړي ورخطا وه ، د تراب مور اودس وکړ په جاینماز پرېوته ، خدای تعالی څخه یې د تراب سلامتیا غوښته.**

**د شپې نهه بجې وې ، د زمرک زړه بې صبره شو ، مور ته یې غږ کړ:**

**ـ بابو زه ځم ، ته مه خفه کېږه تراب ورور مې روغ رمټ راولم ، کېدایشي لاره کې یې موټر خراب شوی وي ، زه به یې پوښتنه وکړم.**

**له کوره اووت ، د ولسوالۍ بازار ته لاړ ،هلته یې د کابل په اډه کې د خپل ورور پوښتنه وکړه**

**ټول په دې خبر وه ، چې ورور یې په لاره کې د غلو له لورې وژل شوی خو چا هغه ته احوال نه شو ویلی ، زمرک پوه شو چې څه خبره شوي.**

**ټولو ته یې اوویل: د خدای په خاطر چې هرڅه شوې وي ماته اووایی ، په ورور مې څه شوي؟**

**یو کس رامخکې شو زمرک یې ګوښه کړ ټوله خبره یې ورته وکړه ، شیبه وروسته د زمرک چیغو په بازار کې د غم شپیلۍ وغږوله ، د کلیوالو موټر یې کرایه کړ ، د سیدکرم په لور زمرک او یوڅو نور کلیوال ورسره روان شول،مور یې د زامنو په ورکیدو سره په اندېښنه کې وه شیبه په شیبه یې ژړل ، غوټۍ یې ترڅنګ ناسته وه ، هغې ته ویل:**

**ـ انا جانې ژاړه مه کاکا او پلار به مې راشي.**

**شپه ناوخته وه خو د تراب او زمرک درک نه وو د شپې دولس بجې وې زمرک او کلیوال یې سیدکرم ته ورسیدل د پېښې په ځای کې یوازې وینې پاتې وې د تراب جسد د پوستې پولیسو د ولسوالۍ روغتون ته انتقال کړی وو.**

**دوی روغتون ته ورغلل ، زمرک د تراب له سره څادر لرې کړ هغه ژړل کلیوالو تسلیت ورکوه**

**کوم قومندان چې د تراب وژلو کې له باز سره یوځای وو ، زمرک ته یې د قاتلینو د نیولو ډاډ ورکوه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سهار زمرک او کليوالو يې د تراب جسد واخيست د کور په لور روان شول د زمرک له سترګو په ټوله لاره اوښکې بهيدې.**

**کليوالو ورته ډاډ ورکوه ، هغه ويل: چې زه به بابو ته څه وايم! هغې ته ما اوويل چې تراب درته روغ رمټ راولم ، په مخ يې د څادر پيڅکه تېره کړه اوښکې يې پاکې کړې.**

**مور يې ټوله شپه په ويښه او انديښنه کې تېره کړې وه ، د زامنو د راتلو په تمه وه.**

**د ورځې نهه بجې وې ، د دوی په کور کې بروبار جوړ شو ، د کلي ښځې د تراب جسد راوړلو څخه مخکې د دوی کورته ورغلې وې.**

**مور يې د ښځو په ورتلو سره ورخطا وه ، لاسونه يې رپيدل ، خبرې يې ستوني کې بنديدې.**

**له ښځو يې همدا پوښتنه کوله: په تراب زوی مې څه شوي! زوی مې چېرته دی؟ هيڅ ښځې دا جرات نشو کوی چې اصلي خبره ورته وکړي.**

**د کور ستره دروازه خلاصه شوه ، ماشومانو منډې کړې ، غږ يې کړ!**

**ـ هلی تراب يې راوړ!**

**د تراب تابوت يې د کور په دروازه د ننه کړ ، مور يې د تابوت او کټ په ليدو چيغې کړې ، دومره چيغې يې اووهلې چې د ټول کلي د سترو وړو له سترګو اوښکې وبهيدې ، چيغو يې د اسمان پرښتې وژړولې د کلي مرغانو او بلبلانو د غم سندرې زمزمه کولې.**

***

**د تراب د مرګ کال پوره شوی وو.**

**زمرک انګړ کې په زاړه کټ ناست وو ، په فکرونو کې ډوب وو ، د کور دروازه ټک ټک شوه ، هغه خولی په سر کړه ، ستړی غونتې د ياالله په ويلو سره له خپل ځايه جيګ شو ، د دروازې په لور روان شو ، غږ يې کړ!       ـ څوک يی!**

**د دروازې له شا يو کس ځواب ورکړ:**

**ـ زه يم ، تورګل**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**زمرک دروازه خلاصه کړه ، له تورګل سره يې ستړې مشي وکړه ، هغه ته يې اوويل:**

**څه خبره ده تورګله ، څنګه دې پېښنه راوکړه ؟**

**تورګل اوويل: زمرکه ، نن د اوبو وار ستا دی ، سباته د بر کلي اخترګل وار دی ، ما ويل خبر دې کړم چې بيا ونه وايې.**

**هغه د تورګل په مټ لاس کېښود ، شونډې يې وخوځېدې: ښه شوه تورګله ، چې راپه ياد دې کړه ،کنه زما څخه خو خپل وار بيخي هېر وو.**

**تورګل اوويل: زه اوس ځم ، د غواو لپاره واښه راوړم ، ماته کوم خدمت وي امر کوه.**

**زمرک هغه ته اوويل: تورګله چېرته ځې! چای به دې څکلی وو بيا به تللی وې.**

**تورګل په خندا شو ، شونډې يې خلاصې کړې: زمرکه ، نن نه کيږي ، قرض دې وي کوم بل وخت.**

**زمرک کور ته د ننه شو په کټ کې کېناست ، سوچونو او فکرونه په مخه کړ.**

**مور يې راغله ، ترڅنګ يې کېناسته: زمرکه زويه څه خبره ده خفه معلوميږې؟**

**هغه مور ته ورنږدې شو ، د هغې لاسونه يې ونيول:**

**ـ بابو يوه خبره ما ډېر ځوروي ، کله چې اسلام يو کار منع کړی وي، موږ هغه کار ولې ترسره کوو؟**

**مور يې وخندل هغه ته يې اوويل:ولې زويه موږ کوم داسې کار کړی چې زموږ دين منع کړی او موږ يې ترسره کوو؟**

**ـ بابو اسلام وايې، انسان مه وژنئ ، موږ يې وژنو.**

**بل انسان ته ضرر مه رسوئ موږ يې رسوو.**

**د بل چا حق مه خورئ، موږ يې په کيسه کې نه يو.**

**وايي چې د بدل نکاح نشته موږ يې ترسره کوو.**

**په اسلام کې د خور لور په بدو کې ورکول حرام دي موږ يې ورکوو.**

**وايي چې هلک او انجلۍ دې په خپله خوښه واده وکړي موږ د هغوی خوښه په نظر کې نه نيسو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اسلام ولور اخیستل حرام ګرځولي موږ یې اخلو.**

**بابو دا نو څنګه مسلماني شوه؟**

**موږ بیا په کوم دلیل جنت ته د تللو ادعا کوو؟**

**په کوم دلیل له الله تعالی څخه د ښې ورځې تمه لرو؟**

**مور یې غلې وه بیا یې هغه ته اوویل: زویه دا خبرې دې ولې وکړې؟**

**زمرک اوویل: بابو هسې زړه مو راډک شو ، هغه ملک صیب ، د تراب خسر څو ورځې مخکې راغلی وو ، ویل یې د تراب د مړینې کال پوره شو ، تاسو باید یوه پرېکړه وکړئ.**

**مور یې په ژاړه شوه له خولې یې د تراب زوی د مرګ دردونه اووتل: اخ ترابه زویه اخ!**

**زمرک مور په غېږ کې ونیوه هغې ته یې اوویل**

**ـ ژاړه مه مورې.**

**د دروازې ټک ټک شو ، زمرک پاڅیدو ورغی ، د جومات امام وو ، د ملا په لیدو حیران شو ، هغه ته یې اوویل: ملاصیب پخیر راغلې څنګه دې زموږ د خوارانو جونګړې ته زړه وکړ؟**

**ملا وخندل شونډې یې وخوځیدې: استغفرالله زمرکه دا ته څه وایې! زه خو هر وخت غواړم چې دلته راشم خو ستونزې زیاتې دي ، نه اوزګارېږم ، زمرکه د دې لپاره راغلم چې هغه د تراب خسر نن جومات ته راغلی وو ، ویل یې چې زمرک ته ورشه ، او هغه موضوع باندې خبرې ورسره وکړه.**

**زمرک اوویل: اه ملک صیب ، تا څه اور اخیستی ، چې تراب ژوندی وو ، راکوله دې نه ، اوس دې بیا صبر نه کیږي.**

**هغه سوړ اسویلی اوویست**

**ـ سمه ده ملاصیب راځه چې حو حجرې ته هلته به وغږېږو**

**دواړه روان شول ، حجره کې یې د نیم ساعت لپاره سره مجلس وکړ ، وروسته پاڅیدل د زمرک شونډې وخوځیدې ، ملا ته یې اوویل: ملک صیب ته اووایه چې زه بیا په خپله درځم بل چاته به ضرورت نه وي چې راویې لیږې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا اوویل سمه ده زه به ورته اووایم ، هغه د جومات پر لور لاړ ، زمرک د زاړه کټ په لورې روان شو.

کېناست خفه معلومیده ، مور ترې پوښتنه وکړه: زویه څه خبره ده ملاصیب څه ویل ؟

هغه وټوخل: بابو د تراب خسر رالیږلی وو.

مور یې په ژاړه شوه ، زمرک ورنږدې شو هغې ته یې اوویل: مورې ژاړه مه ، کمزورې کیږې ، سینه دې هسې هم خرابه ده ، ټوخی درجګیږي.

(د پښتنو په ډېریو سیمو کې دا رواج دی چې د مړه شوي کس کوژدن به د یاد کس له ورثاوو څخه کوم کس ځان ته په نکاح کوي پرېښودل او بل چاته ورکول یې بې غیرتي او شرم ګڼل کیږي)

د ورور مرګ، غریبي او بې وسي او له بل طرفه هغه دودیز مجبوریت چې د خپل ورور کوژدن باید ځان ته په نکاح کړي ، د زمرک ژوند له ستونزو سره مخ کړی وو ، که داسې یې نه وی کړي نو خلکو پیغورونه ورکول ، زمرک همداسې وکړل د تراب کوژدن یې ځان ته په نکاح کړه ، که څه هم د ده خوښه نه وه.

***

ورځې او شپې وتې ، له نوې مېرمنې سره د زمرک د واده کال پوره کیدو.

نیمه شپه وه مېرمنې یې غږ کړ: زمرکه زه ښه نه یم.

هغه زر پاڅیدو ، مور ته یې منډه کړه.

هغې ته یې غږ کړ: بابو ، وه بابو ! اینګور دې ناروغه ده ،

مور یې پاڅیده د هغې ترڅنګ ورغله ، شیبه وروسته یې زمرک ته اوویل:

ـ زویه د ماشوم زیږیدو وخت یې دی ، باید ډاکټرې ته یې بوځو.

زمرک د واسکټ له جیبه تلیفون واخیست ترڅو د موټر واله ته زنګ اووهي ، انتن نه وو سیګنالونه قطع وه ، هغه ته ورپه یاد شوه ، چې پرون طالبانو مخابراتي ستنه په بمونو الوځولي ، خوله یې په قهر خلاصه کړه:

ـ لعنت خو دې ستاسو پردې جهاد شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور يې ورته پام شو هغه ته يې اوويل:

ـ زويه څه خبره ده؟

زمرک سوړ اسویلی اوویست ، ځواب يې ورکړ:

ـ مورې پرون طالبانو ستنه الوزولې شبکې کار نه کوي، غوښتل مې ډرايور ته تليفون وکړم ، خو نه کېږي.

غوږونه او د هغې مور د زمرک د نوي مېرمنې ترخڼګ ناستې وې ، څانګه هم راپاڅيده د هغوی ترڅنګ کېناسته.

زمرک څادر په مټ واچوه ، تېزه رڼايي يې له ځان سره واخيسته ، مور ته يې اوويل:

ـ زه بر کلي ته ځم ، چې يو موټر راپيدا کړم.

هغه په لاره تېز تېز قدمونه وهل ، يو کور ته يې غږ کړ ، د کور له منځه يوې زړې ښځې اواز کړ:

ـ څوک يې؟

زمرک ځواب ورکړ زه يم ، زمرک ، اتل مې پکار وو. ښځې هغه ته اوويل:

ـ په اتل باندې څه کوې؟

هغه ځواب ورکړ:

ـ مېرمن مې ناروغه ده ، که موټر تر بازاره پورې راسره بوځي.

هغې اوويل: اتل په کور کې نشته.

زمرک له هغه ځايه روان شو ، يو بل کور ته ورغی له هغه کور څخه هم يوې ښځې ځواب ورکړ زمرک ته يې اوويل:

دوه ورځې مخکې طالبانو د کلي يو موټر د شپې په بم والوزولو ، خاوند مې نشي درسره تللی ، په خپله خو څوک د مرګ خولې ته نه ورځي.

هغه د يو څو نورو کورونو دروازې هم ټک ټک کړې ، خو هيڅا موټر بولو ته ، زړه ورسره ښه نه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**چا ورته ویل: چې لاره کې طالبانو ماینونه ځای پر ځای کړي ، چا ویل چې موټر او یا د موټر خاوند په کور کې نشته ، هغه په ناهیلۍ سره روان شو.**

**کور ته لاړو ، مور یې اوویل:**

**ـ څنګه شو زمرکه زویه موټر دې راوست؟**

**زمرک د نه په بڼه سر وخوځوه وی ویل:**

**ـ د طالبانو له ډاره هیڅوک راسره نه ځي وایې لاره کې یې ماینونه ښخ کړي.**

**مور یې شونډې وخوځولې:**

**ـ الله خو دې طالبان په قهر اخته کړي ، له موږ غریبو خلکو څه غواړي؟**

**زمرک ناهیلۍ ولاړ وو ، مېرمنې ته یې کتل د هغې وضعیت خراب وو. له درده یې چیغې وهلې ، د زمرک مور د هغې ترڅنګ ناسته وه ، د هغې لاسونه یې نیولې وه ، ویل یې صبر وکړه لورې هرڅه به تېر شي.**

**ټول له هغې څخه تاو وه ، چا خبرې نه کولې یوازې د ناروغې مېرمنې زګیرویو چوپتیا ماته کړې وه.**

**زمرک بهر له ځان سره یوازې د کټ په څنډه ناست وو.**

**له کوټې یې د مور چیغې واوریدې:**

**ـ لورې! لورې!**

**زمرک ورخطا شو ، منډه یې کړه ، په مور یې غږ کړ:**

**ـ بابو څه خبره ده ، څه شوي؟**

**مور یې په ژړغوني غږ اوویل: زویه په لور مې څه کیږي ، باید یو کار وکړو چې هغه ډاکټرې ته بوځو.**

**هغه تاو راتاو شو ، لاره ترې ورکه وه ، له کوره اووت د سیمه ییزو پولیسو پوستې ته ورروان شو ، کله چې ورنږدې شو له هغې خوا د ټوپک بلوټ اووهل شو ،**

**د دریش غږ یې واورید ، زمرک ځای پر ځای ودرید.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**یو کس ورته نږدې شو ، د ټوپک خوله یې د ده په طرف نیولې وه ، په هغه یې غږ کړ:**

**ـ لاسونه دې پورته کړه ، څوک یې ، او دلته په دې وخت کې څه کوې؟**

**زمرک ځواب ورکړ:**

**ـ زمرک یم ، په کور کې مریضي لرم تاسو ته راغلم ، چې له ماسره مرسته وکړئ.**

**د پوستې له منځه یو بل کس غږ کړ:**

**ـ ملګریه موږ ډاکټران نه یو ، ډاکټر ته ورشه!**

**زمرک اوویل: زه پوهېږم چې تاسو ډاکټران نه یی خو موټر ته ضرورت لرم.**

**هغه یې پوستې ته د ننه کړ ، هلته یې ټوله خبره ورته وکړه ، شیبه وروسته د سپینې رنجرې ګروپونه ولړیدل**

**څلور تنه عسکر بډۍ ته وختل ، یو کس د موټر سټیرنګ ته کېناست ، زمرک د ډرایور ترڅنګ مخکې سیټ ته وختو.**

**هغه کور ته ورسید ، منډه یې کړه ، مور ته یې غږ کړ:**

**ـ بابو زه راغلم ، هلی راځئ چې ځو!**

**کوټې ته د ننه شو ټولو ژړل ، زمرک په حیرانی سره دوی ته کتل پوښتنه یې وکړه:**

**ـ بابو ولې ژاړی؟ راځئ چې ځو کنه!**

**مور یې هغه ته اوویل:**

**ـ هغه مړه شوه**

**زمرک اوویل: څه! هغه مړه شوه!؟**

**دیوال ته یې تکیه اووهله ، شیبه په همغه ځای کې ولاړ وو ، وروسته هغې ته ورنږدې شو د مېرمنې سترګې یې پټې وې ، حرکت یې نه کوه ، ساه یې ورکه وه، بیا یې ماشوم ته وکتل هغه هم بې حرکته وو.**

**د هغه له سترګو اوښکې توی شوې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغې ترڅنګ خاموش ناست وو، ټولو ژړل، د موټر رېنګ شو ، زمرک اوښکې په لستوڼي پاکې کړې ، پاڅیده له کوره بهر شو د پولیسو ترڅنګ ورغی.

پولیسو هغه ته اوویل:

ـ زمرکه څه خبره شوې! راځئ کنه.

زمرک اوویل:

ـ مېرمن مې مړه شوه.

پولیس هک پک ودریدل ټولو اوویل:

ـ انا الله وانا الیه راجعون

یو کس رامخکې شو د زمرک په مټ یې لاس کېښود ، هغه ته یې اوویل:

ـ زمرکه مه خفه کېږه د الله تعالی امر به همداسې وو.

د موټر له باډۍ څخه عسکر غږ کړ:

ـ قومندان صیب باید چې لاړ شو هلته ملګري یوازې دي هغوی ته باید ورشو.

دوی ټول موټر ته وختل د موټر لایټونه ولګیدل او روان شول.

له کوره د ژړا اوازونه پورته کیدل، زمرک ښه شیبه د دروازې مخې ته ناست وو له ځان سره یې وژړل ، بیا یې اوښکې پاکې کړې ، کور ته دننه شو ،کوټې ته ورغی ټولو ته یې اوویل:

ـ ژاړئ مه ، پاڅېږئ کور پاک کړئ ، نور کارونه سمبال کړئ

زه ځم چې د مېرمنې پلارګانی مې راخبره کړم.

***

د اوړي ټکنده ګرمي وه زمرک له ښاره راغی اوجود یې لوند خیشت وو خولو یې په ځان کې وچ ځای نه وو پرېښی ، ایمل خان منډه کړه د زمرک په لاس کې د الف ب

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سیپاره وه د هغه له لاسه یې واخیسته ، ژر یې د سیپارې ورقې واړولې ، ځانګې ته ورغی هغې ته یې اوویل: خورې پلار مې ماته سیپاره ادیه کړه.**

**ایمل خان د کلي په جومات کې سبک شروع کړ.**

**د ځیرکتیا او تکړه توب صفتونه یې په ټول کلي کې کیدل ، زمرک خپل زوی ته خوشحال وو ، هغه ته یې لوی ارمانونه لرل ، غوښتل یې چې زوی یې ډاکټر شي.**

**هغه پټو ته د ویالې پاکولو لپاره تللی وو ، کورته د ننه شو په لاس کې یې لور او بېلچه وه ، لور یې د دیوال په سوري کې ځوړند کړ ، بېلچه یې د کاله په کونج کې ودروله ، پښې او د پرتوګ خولې یې په ختو ککړې وې ، په انګړ کې یې یو خوا بل خوا وکتل ، څوک نه وه غږ یې کړ!**

**ـ غوټۍ لورې! له غږ سره سم ټوخي ونیوو.**

**غوټۍ له کوټې راووته ، د پلار مخې ته ودریده ، هغه ته یې اوویل:**

**ـ بابا راغلم څه دې ویل ؟**

**زمرک هغې ته اوویل:**

**ـ لورې اوبه راوړه چې پښې مو په ختو ککړې دي.**

**غوټۍ سترګې لاندې وغړولې د هغه پښو ته یې وکتل پوښتنه یې وکړه:**

**ـ بابا دا ولې؟**

**هغه ځواب ورکړ:**

**ـ لورې د پټو ویاله له خاورو ډکه شوې وه هغه مو پاکوله.**

**غوټۍ اوبه راوړې ، زمرک پښې اومینځلې ، په برنډه کې هوار غولي باندې کېناست**

**ایمل خان ، ځانګه د زمرک مېرمن او مور یې له کوټې راووتل ، ټول یوځای په غولي ناست وو ، زمرک ایمل خان ته اوویل:**

**ـ زویه جومات ته تللی وې؟**

**ـ هو بابا تللی ووم.**

**ـ افرین زویه تکړه شه چې قران شریف دې ختم کړ ښایسته موټر درته اخلم**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایمل خان موسکی شو هغه ته یې اوویل:

ـ بابا جامې به هم راته اخلې.

زمرک موسکی شو: سمه ده زویه درته اخلم یې ، د ایمل خان په ویښتانو کې یې ګوتې وهلې هغه ته یې اوویل: زویه یوه ورځ به مشهور ډاکټر یې له لرې لرې ځایونو به خلک درته راځي.

ټولو وخندل د ایمل خان مور له خندا وروسته خفه معلومیده ، زمرک هغې ته پام شو خو څه یې ونه ویل

وروسته چې یوازې شول له هغې څخه یې د خفګان پوښتنه وکړه.

هغې زمرک ته اوویل:

ـ ستا ارمان دی چې ایمل خان سبق اووایي او ډاکټر شي خو زه ډارېږم ، چې غریبي ستا دغه ارمان نیمګړی نه کړي.

هغې به هر وخت زمرک ته د غریبی یادونه کوله او ویل به یې چې تعلیم پیسو ته ضرورت لري د پیسو لپاره یې د غوټۍ د واده کولو خبره هغه ته کوله خو زمرک یې مخالفت کوه او ویل به یې ولور اخیستل حرام دی زه یې نه اخلم.

زمرک د پولې پر سر ناست وو د مېرمنې خبرې یې په ذهن کې تاویدې ، هغه له ځان سره اوویل ولور حرام دی، نو زه یې څنګه واخلم!؟ له ځایه جیګ شو روان شو په لاره یې همدا سوچونه کول، بیا یې پرېکړه وکړه چې اوس به د غوټۍ ولور واخلم ، کله چې وسي(شتمن) شوم بېرته به یې غوټۍ ته ورکړم.

غوټۍ د شپاړسو کلونو وه خلک یې کله کله مرکې ته راتلل خو زمرک د غوټۍ لپاره باسواده، هوښیار او دینداره هلک غوښتو ، شتمنه کورنۍ هم اړینه وه ځکه د ایمل خان د تعلیم لپاره باید زمرک په لوړ ولور واده کړې وای ، زمرک غوټۍ د کلي یوې شتمنې کورنۍ ته په اته لکه افغانۍ ورکړه ، د واده موده یې کال وروسته وټاکله او پیسې به یې د همدې کال په موده کې ورکولې ، هغه د لور لپاره د ښې کورنۍ په موندلو او د زوی د تعلیم لپاره د پیسو په پیداکیدلو خوښ وو

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زمرک مور ناروغه شوه ، ورځ تر بلې کمزوري کیده. هغه د مور لپاره اندېښمن وو ، هره ورځ یې د کلي ډاکټر ته بوتله ، ګټه یې نه کوله څو ځلې یې د ولسوالۍ روغتون ته بوتله خو کومه نتیجه یې ورنه کړه یوخوا غریبي بل خوا د مور رنځ او درد ، زمرک سخت ځورولو ، هغه مجبور شو چې د مور تداوۍ لپاره د غوټۍ له خسرګانۍ څخه پیسې واخلي د غوټۍ خسرګانۍ ورته په لومړي ځل پنځوس زره افغانۍ ورکړې ، زمرک په پیسو د کور لپاره لږ څه خوراکي توکي واخیستل او په پاتې پیسو یې مور خوست ولایت ته د تداوۍ لپاره بوتله ،

کور یې ایمل خان ته پرېښود ، چې دې وخت کې د پنځو کالو شوی وو.

دوی هلته دوه ورځې تېرې کړې ، مور یې ډاکټر ته بوتله کله چې ډاکټر ته ننوتل ، کاریګر وټوخل ډاکټر هغه ته وکتل ، کاریګر ډاکټر ته اشاره وکړه ، چې د لرې دي.

یعني له لرې ځای څخه راغلي ، (ځینې ډاکټران د پیسو لپاره داسې کار کوي کله چې یوه شي مریض یې د لرې سیمې دی بیا نو ورته ښه پریمانه درمل ورکوي) ډاکټر د کاریګر په اشاره پوه شو ، د زمرک مور ته یې د پنځلس زره افغانیو نسخه ورکړه ، شل ورځې وروسته یې بیا اوغوښته.

دوی کور ته راغلل ، مور یې شل ورځې درمل اوخوړه خو فرق یې ونشو ، درد یې ورځ تر بلې زیاتیده زمرک بیا د غوټۍ خسرګانۍ څخه د پیسو غوښتنه وکړه هغوی ورته څلوېښت زره افغانۍ ورکړې ، همغه ډاکټر ته ورغلل ، زمرک ډاکټر ته د مور درد د زیاتیدو اوویل.

ډاکټر په غوسه شو ، د تمثیل پانه یې خلاصه کړه. زمرک ته یې اوویل:

ـ کومه نسخه چې ما درکړې وه ، هغه مو په مور سمه نه ده خوړلي نو درد به یې څنګه ارام شي؟

زمرک اوویل: ډاکټر صیب کوم ډول چې تاسو راته ویلې وه همغه ډوَل ما په خپلو لاسونو مورته دوا ورکوله

ډاکټر پلاستیک ته لاس کړ یو پاکټ ګولۍ یې راواخیستې د هغه مخې ته یې ونیوې.

ـ دا مو څنګه ورکولې؟

زمرک اوویل: ورځ کې یوه ګولۍ.

ډاکټر وخندل: ګوره کنه زه دروغ نه وایم ، دا ورځ کې دوه ګولۍ دي تاسو یو ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هغه فکر یووړ له ځانه سره یې اوویل:**

**ـ کیدایشي ډاکټر سمه خبره کوي.**

**ډاکټر ورته دا ځلې ډېر معاینات وکړل ، درمل یې هم ښه ډېر ورکړل ، کله چې زمرک د حساب پوښتنه وکړه.**

**د حساب مسوول هغه ته د شل زره پنځه سوه اتیا افغانیو اوویل ، هغه حیران شو حسابدار ته یې اوویل: دومره پیسې د څه شي شوې!؟**

**حسابدار هغه ته د معایناتو نومونه اخیستل:**

**ـ پلانکی ټیسټ دومره قیمت لري ، پلانکی دومره ، پلانکي درمل دومره ، پلانکي دومره ، حساب یې ورته پوره کړ.**

**هغه مجبور شو چې ورسره ویې مني ، جیب ته یې لاس کړ پیسې یې ورکړې ، حسابدار اوویل:**

**ـ اتیا افغانۍ دې ستا لپاره تخفیف وي.**

**زمرک طرخه خندا وکړه روان شو.**

**دوی هلته د لږ پاتې کېدلو وروسته کورته راغلل**

*******

**منۍ وو د خزان سپیره بادونو د ونو نازکي پاڼې غورځولې ، بزګاران په پټیو کې د حاصلاتو په راټولولو مصروف وو ، ایمل خان له خپل پلار سره د پټو په کارونو کې مرسته کوله ، دوی هم د نورو بزګرانو په شان پټو کې مصروف وه.**

**ایمل پام شو چې ځانګه په منډه د دوی خواته روانه ده. پلار ته یې اوویل:**

**ـ بابا ځانګه راغله.**

**زمرک وکتل ځانګه د دوی په لور روانه وه ، کله چې ورسیده نو له سترګیا یې غږ بند بند کیده:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ـ بابا بابو ، بابو!**

**زمرک هغې ته اوویل:**

**ـ لورې څه خبره ده سم اووایه ، بابو ما غواړي؟**

**ځانګې بیا خوله خلاصه کړه په تتوي لهجه یې اوویل: بابو ته مې دردونه زیات شوي ، له درده چیغې وهي. زمرک زر د کور په لور روان شو ، ګړندي ګامونه یې اخیستل ، کله چې کور ته ورسیدو ، مور یې په بدحال وه ، د کلي ډاکټر ته یې بوتله هغه ورته د ولسوالۍ روغتون ته د تللو اوویل ، هلته یې بوتله ، روغتون کې یې د درد پیچکاري ورکړه ، لږ ارامه شوه، شیبه وروسته یې دردونه بیا راپورته شول ، د روغتون ډاکټرانو زمرک ته مشوره ورکړه ، چې مور دې پیښاور ته د تداوی لپاره بوځه ، هغه پرېکړه وکړه چې مور پیښور ته بوځي.**

**پیښور ته یې د تللو اراده وکړه ، خو له پټیو څخه د حاصلاتو راټولولو وخت وو ، او بل خوا له ده سره پیسې نه وې ، مجبور وو چې مور بوځي ، د غوټۍ له خسرګانۍ یې بیا پیسې وغوښتې ، هغوی هم ، نه ورته ونه ویلې ، یو لک افغانۍ یې ورکړې ، پټې یې مزدورانو ته په مزدوری ورکړل چې هغوی یې ورته راټول کړي.**

**زمرک مېرمن او مور یې د پیښور په لور روان شول. لومړی کابل بیا ننګرهار ته لاړل ترڅو ویزه ولګوي او د تورخم له لارې پیښور ته لاړ شي ، په لاره کې یې د مور وضعیت نور هم خراب شو.**

**جلال اباد ته ورسیدل ، د قونسلګرۍ په مخ کې ښکته شول ، هغه په قطار کې ودریده ، د خلکو بروبار ، د پولیسو له لوري د ښځو سره ناوړه چلند، د کمیشنکرانو ګرم تجارت او د مور دردونو هغه مجبور کړ چې له قطار څخه بېرته بیرون شي.**

**د انتظار پر ځای یې کمیشنکرانو ته پیسې ورکړې ترڅو ژر ویزه ورته ولګوي ، د دریو کسانو د ویزې اخیستو لپاره یې شل زره افغانۍ ورکړې ، ورځ یې جلال اباد کې تېره کړه ، بیا د پیښور په لور روان شول ، پیښور ته په رسیدو سره ډاکټر ته ورغلل ، تېرې د درملو نسخې چې مور یې خوړلې وې ټولې یې ډاکټر ته وښودلې ډاکټر یې د مور معاینات له سره وکړل ، له معایناتو وروسته ډاکټر زمرک اوغوښت هغه ته یې اوویل:**

**ـ تاسو مو مور ته سخت او بې ځایه درمل زیات ورکړي حالت یې ځکه دومره خراب شوی ، او بله دا چې مور دې باید عملیات شي.**

**زمرک د ډاکټر په دوهمه خبره پوه نه شو ډاکټر ته یې اوویل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ ډاکټر صیب دا عملیات چیشی دي؟

ډاکټر وخندل هغه ته یې اوویل: افریشن یادوم

هغه د دې خبرې په اوریدو سره حیران شو ویې ویل:

ـ د کوم ځای افریشن ډاکټر صیب؟

ډاکټر هغه ته اوویل:

ـ د مور د زړه ولونه دې بند دي که افریشن نه شي ستونزه یې نوره هم ډیریږي ، او دغه افریشن خطرناک هم دی پنځوس فیصده یې د مرګ وېره هم شته.

زمرک غلی وو

ډاکټر هغه ته اوویل:

ـ ته مشوره وکړه او د روغتون د عملیاتو بخش له مدیر سره بیا پرې وغږیږه.

هغه باندې اووت ، له ډېر فکر کولو څخه وروسته یې له ځان سره اوویل:

ـ بله لار نشته باید چې د مور افریشن وکړم.

د عملیاتو مسول کس ته ورغی ، خبرې یې سره وکړې ، مسول کس د عملیاتو لګښت په اړه زمرک ته اوویل:

ـ ښاغلیه په افریشن باندې څلور لکه کلدارې مصرف راځي. د زمرک رنګ ژېړ واوښت په مخ کې یې وینه نه وه ، پښې یې په ځان پورې ټولې کړې په حیرانی سره یې اوویل:

څلور لکه کلدارې!؟

مسول کس ځواب ورکړ:

هو صیب همدومره مصرف درباندې راځي.

زمرک اوویل:

سمه ده زه بیا راځم له ځایه پورته شو.

د غوټې خسرګانی ته یې زنګ اووهه د مور د عملیات کیدو یې ورته اوویل ، د هغوی ځواب منفي وو ، د څلور لکه کلدارو پیداکیدل ورته ستونزمن وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هغه ناهيلی وو ، باندې اووت جومات ته لاړ ، اودس يې وکړ د لمونځ څخه وروسته په جومات کې ناست وو. سوچونو او فکرونو په مخه کړی وو.**

**موبايل ته يې زنګ راغی ، د غوټۍ له خسرګانی څخه وو ، ځواب يې ورکړ**

**هغه ته يې اوويل:**

**ـ زمرکه پيسې مو له بل چا څخه په قرض اوغوښتې په دوه ورځو کې به يې درته وليږو.**

**د زمرک سترګې وځليدې ، له خدايه يې شکر اوويست.**

**دوه ورځې يې د پيسو لپاره انتظار وکړ ، پيسې يې تر لاسه کړې د مور عملياتو لپاره يې وخت واخيست.**

**مور يې د عملياتو لپاره کوټې ته د ننه کړه ، هغه اودس وکړ خدای تعالی ته په سجده شو له هغه څخه يې د مور شفاء او سلامتيا غوښته ، پس له اوږده عملياته ، ډاکټر د زمرک مخې ته ورغی ، هغه ته يې د مور د بريالیو عملياتو اوويل ، زمرک ودريده له سترګو يې اوښکې توی شوې ، ډاکټر يې په غيږ کې ونيو له خدايه يې شکر اوويست.**

**څو ورځې يې پيښنور کې تېرې کړې ، مور يې له پخوا ښه شوې وه.**

**ډاکټرانو له روغتون څخه روخصت کړل ، دوی د کور په لور روان شول زمرک په جيب کې پيسې وشميرلې ، له څلورلکه کلدارو او يو لک افغانيو څخه پنځلس زره افغانی او اته زره کلدارې ورسره پاتې وې ،**

**کور ته راغلل**

**د کلي خلک او د غوټۍ خسرګانی يې د مور پوښتنې ته ورغلل ، د غوټۍ خسرګانی له موقع نه په استفادې سره زمرک د واده د بندوبست خبره ورياده کړه ، هغه ورسره اومنله خو د واده لپاره يې بايد چې غوټۍ ته شيان اخيستې وای ، د غوټۍ خسرګانی پوهيده چې له زمرک سره پيسې نشته ، کومې پيسې يې چې په دوی پاتې وې هغه يې هم ورکړې ، چې د واده لپاره تياری پرې وکړي.**

**زمرک پټو ته لاړ ، د توت ونې لاندې سيوري ته يې پناه يوړه ، غلی ناست وو ، فکرونو په مخه کړی وو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**غوښتل یې چې د غوټۍ په پیسو د ایمل خان تعلیم وکړي ، خو ډېرې پیسې یې د مور په ناروغۍ باندې مصرف شوې ، او کومې چې پاتې وې هغه یې د غوټۍ د واده لپاره ساتلې وې.**

**همدا سوچونه او فکرونه یې کول ، یو کس له ورایه پرې غږ کړ ، زمرکه څنګه دې توت ته ډډه وهلې او داسې خپه خپه ناست یې ؟**

**زمرک پورته شو ویې خندل:**

**نه تورګله خفه نه یم هسې ماته پوښتنه پیداشوه د هغې په فکر کې ووم. تورګل موسکی شو هغه ته یې اوویل : زمرکه دا څنګه پوښتنه ده چې ته یې دومره د فکر په سمندر کې ډوب کړی یې؟؟**

**ـ تورګله هسې ما فکر کوه کوم کار چې موږ غواړو هغه نه کیږي بلکې کوم کار چې موږ نه غواړو هغه پیښیږي ، چې دا ولې!؟**

**ـ زمرکه ته غواړې چې تقدیر بدل کړې!؟**

**ـ انعوذباالله تورګله دا څه وایې ، تقدیر خو د هر انسان لپاره د نړې پیداکیدو څخه مخکې لیکل شوی نو زه یې څنګه بدلولی شم!؟**

**تورګل په خندا شو هغه ته یې اوویل: ګوره زمرکه ښه پوهیږې چې موږ ته هرڅه پیښیږي ، هغه مخکې له مخکې زموږ په تقدیر کې لیکل شوې دي ، نو بیا ولې موږ وځوریږو؟ موږ به د ژوند لپاره هڅه کوو خو ځور هیڅکله نه ، ځکه چې موږ په تقدیر ایمان لرو او په دې ایمان لرو چې انسان ته هر پیښیدونکی خیر او شر د الله تعالی له لورې دی.**

**زمرک هغه ته کتل شوندې یې وخوځیدې: واه تورګله واه له تانه خو سم ملا جوړشوی.**

**ـ زمرکه ته هم ښه وایې خو اوس راځه چې بېرته بزګاران شو ، دواړو وخندل ، له ځایه پاڅیدل ، روان شول.**

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ژمي موسم وو ، د غره په غزیدلو درو کې د ډزو اوازونو د خاموشی موسم ته ټکان ورکوه.**

**ښکاریانو د ښکار لپاره خپلې مرمۍ ساتلې ، د ژمي په ارامه، یخ او له وزګارتیا ډک موسم کې یې د ټوپک له خولې ایستلې. وحشي ژوي د ځنګلونو په وهلو سره کم شوې وه، مشرانو به ویل:**

**ـ پخوا وختو کې غرونه په ځنګلونو پوښل شوې وه له پرانګانو ، بیزوګانو ، لیوانو ، هوسیو او الوتونکو مرغانو ډک وه ، خو کله چې روسانو په افغانستان یرغل وکړ له هغه وخت راهیسې د ځنګلونو وهل شروع شول او دغه ژوي هم په ورکیدو شول.**

**د ختینو کورونو له سره د بخاریو تور دود پورته کیده. کلی ارام وو ، د واورې غټ پوڅکي وریدل ، د غرونو سرونه په وریځو کې پټ وه ، د ځنګل ځناورو په خپلو اوازونو سره د کلي چوپتیا له منځه وړه.**

**د زمرک د کور یوه کوټه څڅیدله ، له کاګېل(ختې ورکولو) څخه یې بام پاتې شوي وو ، هغه بام ته وختو په سوري ځای یې خاوره هواره کړه ، څڅیدل یې لږ څه ودریدل ، کومو ځایونو به چې څاڅیدل شروع کړل څانګې به هغه ځای ته لوښی کېښود.**

**د ژمي لنډې ورځې او اوږدې شپې یو په بل پسې اوختې ، د زمرک په مور باندې د ناروغۍ موجونه بیا په اهتزاز راغلې وه.**

**زمرک پخپله هم سختې ټوخی نیولی وو ، مور یې هغه ته ډوډې(د چرسو بوټی) په اوبو کې جوش کړې.**

**زمرک ته یې یووړې ، هغه ته یې اوویل:**

**ـ زویه دا مې درته جوش کړې ویې څښه ټوخی به دې ارامه شي.**

**د زمرک له سترګو اوښکې رواني شوې ، له ځان سره یې اوویل: رښتیا هم چې مور د الله ج ستر نعمت دی.**

**د هغې لاسونه یې ونیول:**

**ـ بابو زه ښه یم په ما څه نه کیږې ، خو زه ستا په اړه اندېښمن یم ، که په تا څه وشول زه ژوند نه شم کولی.**

**مور یې د هغه په سر لاس کېښود ، شونډې یې وخوځیدې:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ زمرکه زویه چې ته راته ښه شې ، زه به په خپله جوړه شم.

څانګه ورغله د دوی ترڅنګ کېناسته ، زمرک د ډوډو جوش کړې اوبه پورته کړې ، په سر یې واړولې ویې څښلې.

مازیګر وو د مور وضعیت یې ډېر خراب وو ، هغې خپلو لمسیو ایمل خان او څانګې ته ویل:

ـ زما ترڅنګ کینئ چېرته مه ځئ.

زمرک د باندې اوتی وو ، د مور ترڅنګ ورغئ ، ورسره کېناست مور یې هغه ته اوویل: زمرکه زویه په لمسیانو مې ډېر پام کوه ، وهې به یې نه که ودې وهل زه مې خپل حق درته نه بخښم.

زمرک وخندل: سمه ده بابو ستا خبره زه کله په ځمکه غورځوم.

د ورځې اخیري سلګۍ وې ، لمر خپل نیم ځان د غره ترشاه پټ کړی وو.

هرڅوک د خپلو کورونو په لور روان وو ، څانګې چرګې راټولې کړې کوټکۍ ته یې د ننه کړې د کوټکۍ په ور پسې یې پرده وغورځوله د پاسه یې غټه تیږه پرې کېښوده.

د ماښام له لمانځه څخه وروسته زمرک کور ته راستون شو ، مور یې وکتله وضعیت یې خراب وو ، د سبا په تمه وو ، ترڅو مور یې ډاکټر ته بوځي ، یو خوا شپه بل خوا د ژمي یخ وو د موټرو تلل پکې ناشوني وه.

هغه په یو لټ بل لټ اوښتو ، خوب نه ورتلو د سبا راتلو ته بې صبره وو ، جیګ شو د مور کټ ته ورغلو ، ارامه وه ، د هغې په لیدو یې شکر اوویسته.

لږ څه یې زړه ارام شو ، د شپې اخره برخه کې یې سترګې سره ورغلې ویده شو.

سهار د ملا په اذان سره زمرک پاڅیدو ، لومړی د مور خواته ورغی ، هغه ارامه په خپل ځای پراته وه ، هغه غوښتل چې غږ پرې وکړي ، د لمانځه لپاره یې پاڅوي ، بېرته وګرځېد ، له ځان سره یې اوویل: بابو ښه ویده ده ، لږ به یې پرېږدم چې ارام وکړي ، کله چې له جومات څخه راغلم بیا به یې پاڅوم.

د جومات پر لور روان شو ، ناڅاپه یې زړه کې اندېښنه پیداشوه ، چې بابو خو هیڅ خوځیږي نه ، چې دا ولې!؟

هغې ته ورننوتې شو ، مور یې ساه نه باسله ، غږ یې پرې وکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ـ بابو! بابو!**

**هغې ځواب نه ورکوه ، روح یې له تن څخه وتلی وو. زمرک چیغې کړې!**

**ـ بابو له ما څخه مه ځه زه له تا پرته ژوند نه شم کوی، هغه ژړل بیا د تورګل د تقدیر خبره ورپاه شوه اوښکې یې په لستوڼي پاکې کړې له ځایه پاڅیده ، د هغه په چیغو سره څانګه، ایمل خان او د هغوی مور راپاڅیدل ، هغوی هم په ژړا پیل وکړ.**

**زمرک ته ځان په دې ملامت ښکاریده ، چې ما باید بابو پرون ډاکټر ته بوولې وای ، خو ده به بیا له ځان سره اوویل چې نه دا هرڅه په تقدیر کې لیکل شوي دي ، زه ملامت نه یم**

**شیبه وروسته د جومات ملاامام او د کلي خلک د زمرک کور ته ورغلل ، ملا او نورو مشرانو هغه ته ډاډګیرنه ورکوله. هغه ته یې ویل مرګ حق دی موږ او تاسو یې باید اومنو.**

**زمرک خپله مور خاورو ته وسپارله، په هغې یې قبر جوړ کړ ، خلک ترې کورونو ته روان شول.**

***

**د ژمي وروستۍ سلګۍ وې ، کوچیانو ډلې ډلې رمې د سرک په پراته پراخه سینه د ختیځ په لور بوولې.**

**د پسرلي پیل وو ، د غرونو په لمنو شین پرش غوړیده، ایمل خان د اوو کالو شوی وو ، زمرک هغه د کلي په منځني ښوونځي کې داخل کړ ، یو څه موده وروسته د ایمل ښوونکي نواب شاه سره مخ شو ، وار له مخه یې زمرک ته د هغه د استعداد په اړه اوویل. ښوونکی له ایمل خان څخه خوشحاله وو هغه ویل: ـ ایمل په ښوونځي کې ډېر لایق او ذهین زده کوونکی دی.**

**د ښوونځي لومړۍ کال یې پای ته ورسیده ، ایمل په لومړي ټولګي کې لوستل او لیکل زده کړل.**

**وخت خپله د یادښتونو کتابچه ډکوله او مخ پر وړاندې روان وو ، وروسته یې نه کتل**

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه له پلار سره د پټو په کارونو کې مرسته کوله،

د دوی ژوند هم مخ په ښه کېدو وو.

د روژې اته ویشتمه وه ، ایمل خان له پلار څخه د اختر لپاره کالي او بوټان ، څانګې بنګړي او نکریزې غوښتې. زمرک مجبور شو ، چې د دواړو غوښتنې پوره کړي.

د ولسوالۍ بازار ته لاړ ، له ځان سره یې پنځه زره افغانۍ واخیستې ، د اختر شپې ورځې وې ، هرڅه ډېر قیمته وه، د عادي ورځو په پرتله دوه برابره قیمته شوې وه ، لومړې یې څانګې او ایمل ته کالي، بنګړي ، نکریزې او بوټان واخیستل ، بیا یې د کور لپاره ټول شیان واخیستل ، په جیب کې ورسره شپېته افغانۍ پاتې شوې ، له ځان سره یې اوویل: توبه خدایه دا څه کفر دی ، نوره نړۍ کې دې ورځو کې توکي ارزانیږي دلته بیا خبره برعکس ده.

د شیانو پنډه یې شاته واچوله د ماسپښین لمانځه وخت وو ، د جومات پر لور روان شو د ایمل خان او څانګې کالي او نوره پنډه هم ورسره وه. جومات ته ننوتو ، اودس یې وکړ.

جمعې ته یو څو دقې پاتې وې ، یو سړی جومات ته ننوت ګوډه پښه یې وهله ، بادامي سترګې یې په رانجه تورې کړې وې ، لاس کې یې توره کڅوړه وه ، د جومات منځ ته لاړو ، د متې(ستنې) ترڅنګ کېناست کڅوړه یې هملته کېښوده.

د جمعې وخت وو امام د لمانځه لپاره ودریده ، تکبیر اوویل شو ، سړی په اخیري قطار کې ودرېد ، ټولو د تکبیر لپاره لاسونه پورته کړل ، هغه له جومات څخه اووتو کڅوړه یې هملته پرېښوده.

امام له ولضالین وروسته سورة نسا دغه ایت تلاوت کړ.

وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَٰلِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا.

(ژباړه: پاتې شو هغه څوک کوم چې ، مؤمن په قصدي ډول اووژني، او دی د هغه له ایمان څخه خبر وي نو د هغه سزا دوزخ دی ، چې په هغه کښې به د تل لپاره استوګن وي، پر هغه د الله غضب او لعنت دی او الله د هغه لپاره لوی عذاب تیار کړیدی)

کله چې امام د رکوع لپاره ټیټیده ، د لمونځ کونکو په منځ کې ناڅاپي درز شو ، د ښار له ټولو ونو مرغۍ پورته شوې ، په ټول ښار کې وخشتناک غږ خپور شو ، د جومات

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دیوالونه په وینو سره شول ، د چت سپین رنګ د سوزیدلو غوښو ټوټو او وینو په سور رنګ بدل کړ.**

**چیغې فریادونه پورته کیدل ، ځینو د تشهد کلیمه تیروله او غړونه یې د تل لپاره چوپ کیدل ، د جومات په یوه کونج کې زګیروی پورته کیده ، یو کس په لړزندا غږ دا الفاظ ویل:**

**ـ ځانګې ، ایمله ما اوبښئ ، ستاسو کالي مې درنه وړل ـ ځانګې ایمله ما اوبښئ! ما اوبښئ!**

**ځګیروی د زمرک وو ځانګه، ایمل خان او مېرمن یې سترګو ته تاویدل ، د دیوال ترځنګ پروت وو ، جامې یې په وینو سرې وې ، وروستی ساه یې اوویسته ، سترګې یې سره ورغلې او د ابدي دنیا پرلور لاړ ، په جومات کې چیغې او فریادونه وه ، ټول ښار د امبولانسونو اوازونو د غم په نغمو کې زنګوه ، وخشتناک غږ په ټول ښار او د ښار په ګاونډ کې وېره خپره کړې وه ، چاودنه دومره زورروره وه چې د کلي ماشومانو ته یې د یتیم کیدو او ښځو ته یې د کونډیتوب زیری وار له مخکې رسولی وو. باروتو په جومات کې دنګې ځوانۍ رانسکورې کړې ، سپین مخې مېرمنې یې بې اسرې کړې ، او د عزت ټیکری یې ورځخه د کونډیتوب په سپیره باد یووړ.**

**د دوی په کلي کې ویر او ماتم وو. ډېرو د کورنۍ غړي له لاسه ورکړي وه ، چاته تر دې دمه پوره معلومات نه وه چې هغوی ژوندي دي که مړه!**

**د ایمل خان او ځانګې مور اندېښمنه وه.**

**په انګړ کې یوخوا بل خوا تاویدله ، د کور دروازې ته هرځلې ورتله ، ایمل خان ته یې غږ کړ:**

**ـ زویه!**

**ایمل خان د هغې ترځنګ راغی:**

**ـ مورې څه دې ویل ؟**

**مور یې هغه ته اوویل:**

**ـ باندې دروازې سره کېنه کله دې چې پلار راغی ماته اووایه**

**هغه اوویل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ سمه ده مورې خو پلار به مې ماته کالي اخيستې وي؟

مور يې هغه په غېږ کې ونيو:

ـ هو زويه ، ولې به يې نه وي درته اخيستې!

ايمل د دروازې په لوري منډه کړه د پلار په تمه کېناست

څانګه به هم کله کله دروازې ته ورتله ، د خپل پلار د راتلو په تمه وه ، ايمل خان ته يې غږ کړ:

ايمله! بابا مې نه ښکاري ؟

هغه ځواب ورکړ:

ـ نه تراوسه خو نه ښکاري ، ايمل خان هغه لارڅارله چې پلار به يې هر وخت کورته پرې راتلو.

د ولسوالۍ په روغتون کې اته ځلوېښت د مړو جسدونه وه ، ډېر ټپيان هم دغه روغتون ته وړل شوې وه ، ځينې سخت ټپيان مرکزي روغتونونو ته ليږدول شوې وه ، د ټولو مړيو جسدونه له پيژندګلوی څخه وروسته د هغوی کورنيو ته ورکول کيدل.

مازيګر وخت وو د ايمل خان دوی کلي ته نوولس جسدونه يووړل شول ، لومړی يې د کلي په عيدګاه کې کېښودل ، بيا يې جسدونه د هغوی کورونو ته د وړلو لپاره اوچت کړل.

ايمل خان وکتل ګڼ شمېر خلک د دوی کور په لور روان وه ، منډه يې کړه مور ته يې غږ کړ:

مورې زموږ د کور په طرف ډېر خلک راروان دي!

د مور زړه يې دربه شروع کړه ، هغه يې په غېږ کې ونيو.

څنډ وروسته د دوی په کور جنازه دننه شوه

د انګړ په منځ کې يې کېښوده ، د کټ لاندې خړو خاورو باندې د وينو څاڅکي بهيدل.

د ايمل خان مور له سره ټيکرۍ سپيرې سيلۍ يوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کټ په لیدو بې هوشه شوه ، ایمل خان او څانګه د کټ سرته ودریدل د پلار په لیدو یې ، چیغو ټول کلی وژړاوه

د جومات ملاامام ، ایمل خان په غېږ کې ونیو ، د ملا له سترګو اوښکې روانې وې

هغه له ځان سره ویل: په دې ډارېږم چې د څانګې او ایمل خان چیغې د الله تعالی د خفګان او قهر سبب نه شي ، او د دې دونیا په انسانانو کانې راګوزار نه کړي،

دغه مغروره انسانان د دونیا پرمخ د لږ واک او پیسو لاسته راوړلو لپاره داسې کارونه کوي چې د اسمان پرښتې هم وژړوي.

د کور په دیوالونو ناستو توتکو د غم نغمې غږولې.

د زمرک کټ د جنازې لپاره پورته شو د دیوالونو پرسر ناستې مرغۍ والوتې کټ یې له کوره بهر کړ د هدیرې پر لور یې یووړ.

جــنګه د اوښکو نه مووشرمېږه

لږ خو مو چېرته په قراره پرېږده

***

د زمرک د مرګ کال پوره شوی وو ، ایمل خان څانګه او مور یې د کاله په منځ کې یوازې اوسیدل ، د شپې پرمهال یې دروازې ته غټې تیږې اېښودې.

د کلي خلکو اوله کې له دوی سره مرسته کوله ، زکات او صدقه به یې دوی ته وروړه ، خو دغه مرستې ورځ تر بلې کمیدې ، تر کاله پورې دوی د خلکو په مرستو ګذاره کوله وروسته یې روزي ورو په ورو تنګیده.

ایمل خان د اتو کالونو شوی وو له ځان سره یې د کار کولو پرېکړه وکړه ، هغه په دې نه پوهیده چې کوم ډول کار وکړي چې د کور لپاره پیسې وګټي.

مازیګر یې د قدرې کتاب واخیست ، جومات ته د درس ویلو لپاره لاړ ، هلته له یو بل هلک سره کېناست ، خپل منځ کې یې کیسې کولې هلک په جیب لاس د ننه کړ له جیبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**يې لاس د باندې اووت ، دواړو سره وخندل د هلک جامې څو ځايه ګنډل شوې وې ، ايمل خان له هغه څخه پوښتنه وکړه:**

**ـ اباسينه دې ورځو کې ليدل کيږې نه چېرته يې؟**

**هغه ځواب ورکړ:**

**ـ ايمل خانه بازار ته ځم هلته کار کوم.**

**هغه بيا ترې پوښتنه وکړه څه ډول کار ؟**

**اباسين هغه ته اوويل بوټان رنګوم.**

**د ايمل خان په څيره کې مسکا خواره شوه ، له ځان سره يې اوويل:**

**ـ زه هم يو ځای کې کينم بوټان به رنګوم ، د بوټانو رنګولو لپاره بورس او رنګ پکار وو ، هغه مورته ورغی غږ يې کړ: مورې!.هغې ځواب ورکړ: ـ زويه اوويه**

**ايمل اوويل:**

**ـ مورې کور کې بورس او رنګ شته؟**

**مور په حيرانی سره هغه ته وکتل:**

**ـ زويه بورس او رنګ باندې څه کوې ؟ مورې خو کله کور کې رنګ نه دی کړی نو بورس او رنګ به له کومه شي!**

**ايمل خان هغې ته مخامخ ودريد موسکی شو:**

**ـ مورې هغه بورس رنګ نه يادوم د بوټانو بورس رنګ يادوم.**

**مور يې د هغه پښو ته وکتل ، پلاستيک څپلی يې په پښو وې ، هغه ته يې اوويل:**

**ـ زويه دغه څپلی نه رنګ کيږي زه به يې درته اومينځم بيا به بيخي نوې شي**

**د ايمل خان شونډې وخوځيدې:**

**ـ نه مورې زه پرې دا نه رنګوم ، غواړم چې کار وکړم ، هغه د بر کور واله اباسين ، چې پلار يې زما له بابا سره يوځای په جومات کې شهيد شوی وو ، هغه په بازار کې د خلکو بوټان رنګوي ، کور ته پيسې ګټي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مور له سترګو یې اوښکې روانې شوې ، هغه یې په غېږ کې ونیو ، د زمرک هغه خبره ورپه یاد شوه ، چې ویل به یې ایمل خان زوی به مو یوه ورځ ډاکټر وي او ستا په لاس به یې د فشار ماشین ایښی وي ، هغې له ایمل خان څخه ټینګ لاسونه تاو کړې وه ، ژړل یې.**

**ایمل خان سپین لاسونه د هغې په مخ تېر کړل:**

**ـ مورې مه ژاړه هرڅه به سم شي.**

**ایمل خان کور لټ په لټ ولټوه ، یو زوړ بورس یې پیدا کړ خو رنګ یې پیدانکړ ، ډېر خفه وو د برنډې په ژۍ باندې ناست وو ، د رنګ پیداکیدو په فکر کې وو ، د کور صندوقونه یې ولټول په صندوق کې یې یوه ګرده طلايي رنګه اوسپنه پیداکړه ، هغه یې واخیسته ورته یې وکتل ، په یو مخ یې انځور کښل شوی وو په بل مخ یې انګلیسي توري لیکل شوي وه ، ایمل خان هغه جیب ته واچوله له ځان سره یې اوویل:**

**ـ دا به خرڅ کړم په روپیو به یې رنګ واخلم.**

**د ښوونځي بکس یې واخیست ، کتابونه یې ترې لرې کړل ، بورس او د کیناستو لپاره یې جاینماز واخیست په بکس کې یې واچول ، سهار شېږ بجې وې ، بکس یې شاته وتړه ، له مور څخه یې روخصت واخیست د ښار پر لور روان شو.**

**یو دوکان ته لاړ ، له جیبه یې اوسپنه راواخیسته دوکاندار ته یې وروړاندې کړه د اوسپنې په لیدو د دوکاندار سترګې رډې وختې ، د ایمل خان په څنګ کې یو بل کس ولاړ وو**

**بادامي سترګې یې په رانجه توري کړې وې، ګرګتو اوږده (تاو رتاو) ویښتان یې درلودل پلن ببر لاسونه یې وه.**

**هغه د اوسپنې په لیدلو سره سترګې وځلیدې ژر یې په ایمل خان غږ کړ! ورازه ته دلته څه کوې! او دا اوسپنه دې څنګه راوړې؟ له لاسه یې ونیو ترڅو له دوکان څخه د باندې اوځي ، دوکاندار یې مخې ته ودرید په غوسه یې اوویل:**

**ـ ګوره دا زما دوکان دی ته نه شې کولی چې زما ګاک له ماڅخه بوځې.**

**سړي دوکاندار له غاړې څخه ونیو په قهر یې ورغبرګه کړه ، ګوره دوکانداره ستا به ګاک وي خو زما ورازه دی اوسپنه یې له کوره پټ راوړې ، ته دې خوله سمه خوروه خپل حد دې وپیژنه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایمل خان دواړو ته ردې ردې کتل ، دی هم دې ته هیران وو ، چې اوسپنه کې څه خبره ده ؟ چې دوکاندار پرې دومره ټینګار کوي.

هغه اوسپنه جیب ته واچوله له ځان سره یې فکر وکړ چې دې اوسپنه کې خامخه څه خبره شته ، چې دوکاندار او سړي سره پرې نیولې ، کوم کس چې هغه ته یې وراره ویلې ، لومړی ځل یې وو چې ورسره مخ کېږي.

دوکاندار دوی ته لاره ورکړه ، سړی ګوډ ګوډ روان شو ایمل خان یې له لاسه ونیو دواړه باندې اووتل ،ایمل خان له سړي پوښتنه وکړه:

ـ زه دې ولې د دې خرڅولو ته پرېنښودم؟

سړي هغه ته اوویل:

وراره ستا نوم څه دی؟

هغه ځواب ورکړ: ایمل خان ، او ستا نوم څه دی؟

سړي اوویل: باز

هغه موسکی شو خوله یې وخوځیده:

ـ باز څومره ښه نوم دی.

باز ایمل خان ته مخامخ کېناست:

ـ ښه ایمل خانه دا اووایه چې دا اوسپنه د چا ده ؟

هغه ځواب ورکړ: د پلار مې.

ـ پلار دې چېرته دی ؟

ـ هغه کال مخکې مړ شو

ـ ولې ؟

ـ هغه جومات کې چې چاودنه وشوه هغه کې زما پلار هم وو.

د باز رنګ ژېړ واوښت توخی ونیوو ، ایمل خان هغه ته اوویل: څه وشول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هغه اوویل: کومه خبره نه ده وراره هسې سینه مې لږه خرابه ده نو ځکه ټوخېږم ، بیا یې پوښتنه وکړه:**

**ـ کور او کورنۍ مو چېرته دي؟**

**ایمل خان ځواب ورکړ:کور مو متورخ کلي کې دی ،کور کې یوازې یوه خور او مور لرم.**

**ـ ښه نو دا اوسپنه دې ولې خرڅوله؟**

**هغه یوه شیبه غلی وو ، بیا یې شوندې خلاصې کړې**

**ـ باز کاکا دا څو ورځې کېږي کور کې د خوړلو لپاره هیڅ شی نه لرو ، مخکې به د کلي خلکو زکات او صدقه موږ ته راکوله ، خو اوس یې څوک نه راوړي.**

**باز بیا پوښتنه وکړه: خپل او خپلوان نه لرئ؟**

**ایمل خان اوویل: زما د مور ورونه پاکستان کې دي ، دا څوکاله کېږي خبر ترې نه لرو ، او یوه خور مې بله هم وه هغه واده شوې ده ، پخوا یې کندوز ته کډه کړې ، بیا چې کله په کندوز طالبانو حمله وکړه ، د دوی په کور بمباری شوی وو ، وروسته زما پلار ورغلی وو ، خو کور کې یې څوک نه وه پیداکړي ، له هغې ورځې راهیسې مې خور ورکه ده ، خبر نه یو چې وژل شوې که له هغه ځایه یې کوم بل ځایه ته کډه کړې.**

**دواړه د لږ وخت لپاره غلي وه ، ایمل خان په خپلو خبرو سره چوپتیا ماته کړه:**

**کاکا ما غوښتل چې د اوسپنې په پیسو د بوټانو رنګ واخلم ، ترڅو ښار کې کار وکړم ، بوټان رنګ کړم ، او کور ته پیسې یوسم.**

**باز هغه ته اوویل:**

**ـ وراره ته اندېښنه مه کوه ، دا ماته راکړه زه تاته ډېرې پیسې درکوم کور ته شیان او د بوټانو لپاره رنګ پرې واخله.**

**ایمل خان یوه شیبه غلی وو له ځان سره یې اوویل چې اوسپنه قیمتي ده ځکه خو یې دا له ما غواړي.**

**هغه ته یې اوویل:**

**باز کاکا زه اوسپنه نه خرڅوم کور ته یې وړم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د سړي مخ سور شو په غوسه یې اوویل: ولې لږ مخکې دې دوکان ته د خرڅولو لپاره وړې وه اوس وایې چې نه یې خرڅوم!**

**ایمل خان غلی وو زړه نه زړه وو**

**باز هغه ته اوویل:**

**ـ هله دا ماته راکړه زه درته پیسې درکوم**

**اوسپنه یې لاس کې ټینګه نیولې وه ، هغه ته یې اوویل:**

**نه باز کاکا دا ما له کوره پټه راوړې ، مور مې نه ده خبره تاته یې نه شم درکولی.**

**سړي شاوخوا وکتل خلک وو دوکاندار هم د دیوال ترڅنګ ولاړ وو ، دوی یې څارل.**

**باز وخندل:**

**ـ سمه ده وراره مه یې راکوه خو کور ته یې یوسه چې بل چاته یې ورنه کړې.**

**باز جیب ته لاس کړ ، سلیز افغانۍ نوټ یې له جیبه راوویست هغه ته یې ورکړې.**

**شونډې یې وخوځیدې:**

**ایمله زویه دا سل افغانۍ واخله او اوسپنه درسره وساته چې ورکه یې نه کړې!**

**ایمل خان د پیسو په لیدو سره خوشحاله شو ، له هغه څخه یې کلکه غېږه تاو کړه ، باز د ایمل خان جیب ته کتل خو موقع ورته نه پیداکیده.**

**دواړه دوکان ته لاړل دوه ډوله رنګ یې واخیست سور او تور.**

**باز هغه د جومات ترڅنګ د یو دوکان مخې ته کینوه ، دوکاندار ته یې غږ کړ:**

**سورګله په هلک پام کوه ، چې څوک یې درنه ونه څوروي**

**ایمل خان ته یې اوویل: ته به هره ورځ همدلته کېنې بل ځای کې دې خلک څوروي ، دلته به سورګل دوکاندار درباندې پام کوي او ګوره ښه اوسپنه چاته ورښکاره نه کړې ځان سره یې کورته یوسه.**

**ایمل خان اوویل: سمه ده کاکا وړم یې.**

**باز پاڅیده ، دوسمال یې له غاړې تاو کړ ، هغه ته یې اوویل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ زه سبا بیا راځم ته به همدلته ناست وې ، سمه ده؟

ـ سمه ده کاکا زه همدلته راځم.

سړی ګوډ ګوډ روان شو ، ایمل خان په خپل ځای کېناست.

مازیګر شو د لمر سترګه په تیتیدو وه ، ایمل اتیا افغانۍ تر مازیګره ګټلې وې ، سل افغانۍ نورې ورسره وې د موټرو هډې ته لاړ ډرایور ته یې اوویل:

ـ ماما ډاله کې څو روپۍ کرایه ده؟

ډرایور: شل افغانۍ.

ایمل خان ولاړ وو:

ـ ماما شل افغانۍ ډېرې دي لس افغانۍ درکړم؟

ډرایور وخندل: سمه ده زویه لس افغانۍ راکړه ډالې کې کېنه چې ځو.

ایمل خان ډالې ته وختو ، ډرایور کیلي تاوه کړه د موټر له سلنګسره تور لوګی اووتو ، ټایرونو حرکت شروع کړ

هغه کورته ورسیدو ، مور او خور یې د نغري ترڅنګ ناستې وې ، دېګ یې پرې ایښی وو ایمل خان سلام واچوه ، د مور ترڅنګ ورغی هغې ته یې اوویل:

ـ مورې پوهېږې نن ما څو روپۍ وګټلې؟

له جیبه یې پیسې راوویستې ، مورې یوسل اویا افغانۍ دي.

د مور له سترګو یې اوښکې رواني شوې. ایمل خان د باز او دوکاندار کیسه هغې ته وکړه ، مور یې اوسپنه ترې واخیسته هغه ته یې اوویل:

ـ زویه دادې ولې وړې وه؟ دا دې د نیکه مډال دی د داودخان حکومت هغه ته ورکړی وو ، په پلار دې چې څومره سختي هم راتله نو دا یې نه راخیستو.

هغه اوویل: مورې زه نه پوهیدم ما ویل چې هسې اوسپنه ده ښه شو چې باز راغی کنه نو ماخو په دوکاندار خرڅوله.

مور یې پاځیده مډال یې په سپین رنګي صندوق کې کېښود

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ایمل خان د نغري ترڅنګ ناست وو ، د غوښې بوی یې حس کړ ، شونډې یې وخوځېدې:**

**ـ مورې له بخار څخه د غوښې بوی راځي**

**ـ هو زويه غوښه ده**

**ایمل خان په حیرانۍ اوویل:**

**ـ مورې غوښه له کومه شوه؟**

**ځانګې هغه ته اوویل:**

**ـ وروره غوښه د ملک اڅک دین کشر زوی راوړه ویل یې چې ورور پسې مو خیرات کړی ، هغه چې تېر کال زما پلار سره یوځای جومات کې شهید شو.**

**ایمل خان اوویل: زه چې لوی شوم پلار پسې به هرکال خیرات کوم.**

**مور یې په ژړا شوه ، دواړه یې په غېږ کې ونیول.**

**ایمل خان او ځانګه د بخار ترڅنګ ناست وه ، مور یې انګړ کې پلاستیکونه ټولول ترڅو یې اور پسې کړي. ځانګې هغه ته اوویل: وروره مور به مو وړې وي ما او تا کمه غوښه راخلو هغې ته ډېره ورکوو سمه ده!؟**

**ایمل خان له جیبه پیسې رایستلې وې ، څوځلې یې وشمېرلې.**

**ځانګې ګګرو ویښتانو کې ګوتې وهلې له بخار څخه یې سترګې نه اړولې ، ناڅاپي درز شو د کوټې له کړکیو خړې دوړې ووتې ، مور یې چیغه کړه: ایمله! ځانګې!**

**منډه یې کړه کوټه تورو لوګیو نیولې وه مور یې وکتل د غوښې بخار الوتی وو ، ځانګې ژړل په سرو اوبو سوځېدلې وه ، ژړ یې مور ته منډه کړه ایمل خان هم په اوبو سوځېدلی وو ، کوټه ټوله غوړو نیولې وه**

**بخار کې هیڅ هم نه وو پاتې ، د کوټې په غولي باندې د غوښې څو ټوټې پراتې وې ، مور یې هغه ټولې کړې په اوبو یې اومینځلې ، بیا یې دېګ ته واچولې اوبه یې ورسره ګډې کړې ، بښوروا یې ترې جوړه کړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

**سهار اووه بجې وې ایمل خان بکسه شاته واچوله ، د ښار په لور روان شو مور یې ترشاه پسې غږ کړ:**

**ـ زویه زما خبرې دې له غوږو څخه ونه باسې په ځان دې پام کوه**

**ایمل خان هغې ته اوویل: سمه ده مورې**

**سړک ته ورسید د سراچه موټر په ډاله کې سپور شو. موټر څو ځایه د سپرلی لپاره ودرید ، له ځنډ وروسته موټروان د ښار په ګڼه ګونه کې غږ کړ:**

**ـ راورسیدو!!!**

**ټول ښکته شول.**

**ایمل خان هم له موټر ښکته شو ، پخوانی ځای ته لاړ**

**ماسپښین شو د لمانځه وخت وو خلک جومات ته تلل**

**ایمل خان یو ډډ غږ واورید.**

**ـ ایمله زویه زه راغلم.**

**هغه سترګې ورپورته کړې، باز وو ګوډ ګوډ راروان وو ، هغه ته یې ستړي مشي ورکړه ، باز د هغه په څنګ کې کېناست.**

**باز وټوخل: وراره هغه اوسپنه دې یووړه؟**

**ایمل خان اوویل: هو کاکا مور ته مي ورکړه هغې صندوق کې کېښوده.**

**ــ هغه یې کوم ډوَل صندوق کې کېښوده ؟**

**ایمل خان د خبرې په اوریدو حیران شو ، خوله یې خلاصه کړه : څه؟**

**باز وخندل: مطلب مي دا وو چې د صندوق رنګ کوم ډوَل وو ؟**

**ایمل هغه ته اوویل: دا پوښتنه دې ولې وکړه ؟**

**باز اوویل: ایمله زویه هغه اوسپنه له ځینو رنګونو سره حساسیت لري ، مطلب چې ځینې رنګونه ورته تاوان لري خرابوي یې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ایمل خان اوویل:**

**ـ کاکا مورِ کور کې دوه صندوقونه لرو یو خړ رنګ لري بل سپین هغه اوسپنه مې مور په سپین صندوق کې کېښوده.**

**ـ باز کاکا سپین رنګ خو تاوان نه لري؟**

**باز په برېتو لاس تېر کړ: نه نه سپین رنګ هیڅ تاوان نه لري همغه صندوق کې یې پرېږده.**

**باز پورته شو هغه ته یې اوویل: ګوره کومې خبرې چې ما او تا دلته کوو ته یې باید هیچاته هم ونه کړې.**

**ایمل د هو په بڼه سر اوخوځوه.**

**سړی روان شو ایمل خان ته یې سل روپۍ ونیولې ، هغه ترې واخیستې باز اوویل چاته مه وایه چې پیسې ما درکړي داسې اووایه چې ګټلې مې دي.**

**مازیګر شو ایمل خان ټول شیان بکس ته واچول کورته یې د تلو تیاری نیوه د هډې په لور روان شو.**

**په لاره کې د سړک پر سر سپین ځنځیر پروت وو ، هغه ورټیټ شو په لاس کې یې واخیست ، نوی وو له چا لویدلی وو ، ایمل خان هغه جیب ته واچوه ، روان شو.**

**موټر ته وختو ډرایور نارې وهلې:**

**ـ هلی یو کس ، مټورخ ته یو کس!**

**له لرې یو سړی ګوډ ګوډ راروان وو ډرایور ته یې غږ کړ ـ زه ځم!**

**د موټر دروازه خلاصه شوه سړی موټر ته وختو ، شاته سیټ کې کېناست ایمل هغه ولیدو ، باز وو له ډالې یې پرې غږ کړ!**

**ـ باز کاکا ته! ، ته زمورِ کلي ته د څه لپاره ځې؟**

**باز اوویل: ایمله زویه هلته مې یو ملګری دی زوی ته یې کوژدن کړې هغه د ډوډۍ دعوت راکړی.**

**موټر روان شو ټایرونه یې په سرعت سره تاویدل، ډرایور راډیو ونیوه ، یوه چینل کې خبرونه وه هغه یې بدله کړه ، بله یې وړوله ، هغې کې د نغمې سندره لږیدلې وه ، هغه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې هم بدله کړه ، بله راډيو کې د سولې په اړه د شنونکو ترمنځ بحث وو ، يوه شيبه يې پرېښود ، بېرته يې دوهم سټيشن ته څپې بدلې کړې ، د نغمې سندره يې پرېښوده له ځنډ وروسته يو کس غږ کړ:

ـ استاده همدلته برېک شه!

موټر ودريد سړي موټروان ته پنځوس افغانۍ ورکړې.

موټر بيا حرکت وکړ ، د ايمل خان کور راورسيد هغه غږ کړ: زه همدلته کوزېږم!

باز هم ورسره ښکته شو ، خپله او د ايمل خان کرايه يې ډرايور ته ورکړه.

ايمل خان هغه ته اوويل:

ـ باز کاکا ته چېرته ځې؟ باز د بر کلي په طرف ګوته ونيوله.

ايمل خان له هغه څخه خدای په اماني واخيسته. باز تر هغې ولاړ وو چې ايمل خان د کور په دروازه د ننه شو.

څانګه ناسته وه هغه پرې سلام واچوه هغې د سلام ځواب ورکړ.

ايمل خان پوښتنه وکړه: خورې مور مو چېرته ده؟

څانګې اوويل: د ګاونډيانو کره تللې.

ـ د څه لپاره ؟

ـ د ګل ختو لور ناروغه وه د هغې پوښتنې ته ورغلې ده.

ايمل خان هغې ته يې اوويل خورې پوهېږې ما څه درته راوړي!؟

ـ نه ، نه پوهېږم ، څه دې راوړي؟

هغه جيب ته لاس کړ ، له جيبه يې ځنځير راوويست ، هغې ته يې اوويل دا مې لاره کې پيداکړ له چا لويدلی وو.

څانګې ځنځير واخيست په غاړه کې يې واچوه.

شيبه اووته ، مور يې کور ته راغله.

دوی مور ته ستړي مه شي اووې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مور سره یې لاس کې کځوړه وه ایمل خان پوښتنه وکړه: ـ مورې دا څه دي؟**

**هغې اوویل: ګل ختو دې خدای له غمونو ساتي له باغ څخه یې راته منې وشکولې هغه مې ترې راوړې.**

**او ویل یې چې سبا کورته درځم.**

**رڼا په تیاره کیدو وه.**

**درې واړه له دسترخوان تاو شول ، ډوډۍ یې اوخوړه له لمانځه وروسته هرڅوک خپلو ځایونو ته د اوده کیدو لپاره پاڅیدل.**

**د شپې نیمایې برخه وه ، د غره په درو کې د ژویو اوازونو د شپې له خاموشی سره ساز غږوه ، د کلي سپیو غپل.**

**څانګه، ایمل خان او مور یې په درانه خوب ویده وه.**

**درب شو د کاله له دیواله یو کس لاندې ټوپ کړ ، په انګړ کې یې ګوډه پښه وهله د کوټې په لور روان شو په لاس کې یې چاړه وه.**

**د کوټې دروازه یې خلاصه کړه ، د ننه شو ، د څانګې په خوله یې دوسمال کېښود ، هغې پښې ږپولې مور یې راویښه شوه ، چیغه یې کړه: څوک یی!؟**

**له ځایه نیمه پاڅیدلې وه ، د چاقو ګذار پرې وشو همغه ځای کې بېرته اوغورځیده.**

**زګیروي یې کول بیا یې سینه کې د چاقو ګذار وشو زګیروي یې خاموش شول. ایمل خان خپل لټ بدل کړ سترګې یې وغړولې ، په سړي یې سترګې ولږیدې ، په هغه یې غږ کړ:**

**ـ ته !؟**

**سړي د چاقو ګذار وکړ ایمل خان ځای په ځای خاموش شو ، هغه ژر په شا قدمونه واخیستل ، د چاقو له سره سرې وینو په ځمکه څاڅکي کول.**

**هغه یوې بلې کوټې ته لاړ ، سپین صندوق یې خلاص کړ ویې لټوه ، یوه ژېړه طلایې اوسپنه یې ترې واخیسته جیب ته یې واچوله.**

**له کوره اووت د شپې په اخره برخه کې خاموشه خاموشي شوه ، په جومات کې اذان وشو ، د کوچیانو رمې د لویدیځ په لور روانې وې ، خاوندانو یې د دریه اچه په ویلو سره د سهار خاموشي ماته کړې وه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمر د غرونو په لمنو د ژېړ تیکري په څېر خوار وار پروت وو ، د ورځې لس بجې وې ایمل خان او مور یې په خپلو ځایونو پراته وه ، د مور له بستره یې وینو لاره جوړه کړې وه ، د ګاونډیانو ښځه راغله ، د کور دروازه یې ټک ټک کړه چا ځواب نه ورکوه.

د انګړ دروازه یې زور کړه ، خلاصه وه ، کور ته د ننه شوه غږ یې کړ:

- د ایمل خان مورې! غږ مې اورې؟ ګل ختو یم.

کور کې چوپه چوپتیا وه بیا یې غږ کړ:

ځانګې! وه ځانګې! د کوټې پر لور یې قدمونه واخیستل دروازه یې خلاصه کړه ، کوټه کې د وینو بوی وو هغه د وینو په لیدو وډاره شوه ، چیغه یې کړه!

- د ایمل خان مورې پاڅېږه! ایمل خان ته ورورېاندې شوه

- ایمل خانه، ایمل خانه!

ایمل خان د لاس ګوتې اوخوځولې ، ښځې منډه کړه د خپل کور سړي یې خبر کړل ، د کلي امام ښځې او سړي د دوی کور ته ورغلل ، ملا ښځې ته ورننږدې شو د لاس رګونه یې وکتل ساه یې نه ویسته ، هغه مړه شوې وه ، کلیوالو ته یې اوویل: ښځه مړه شوې. بیا یې ایمل خان وکتو غږ یې کړ: هلئ دا ژوندی دی. یوځوان منډه کړه موټر یې کورته د ننه کړ ، هغه یې ورپورته کړ د ایمل خان مور ښځو تیاره کړه ، کفن یې ورته تاو کړل

ټولو ځانګه لټوله خو ځانګه ورکه وه ، ښځو د کور په هره کوټه کې ولټوله د ځانګې درک نه کیده.

پېښې ټول کلیوال اندېښمن کړی وو هرچا سره دا پوښتنه وه چې دا کار به چا او ولې کړی وي!؟

ایمل خان لس ورځې وروسته سترګې وغړولې ، مخې ته یې ډاکټر ولاړ وو ، د هغه شونډې وښوریدې:

- زه چېرته یم ؟ مور او خور مې چېرته دي ؟

ډاکټر یې په سر لاس تېر کړ:

- ارام اوسه زویه ، مور او خور دې همدلته دي لږ وروسته به راشي.

د ایمل خان ذهن ته د هغه شپې پېښه ورياد شوه ، چیغه یې کړه! مورې، خورې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر هغه ته اوويل: زويه مور او خور دې راځي ارام اوسه.

لږ وروسته د جنايي پېښو څېړونکي روغتون ته راغی د هغه ترڅنګ کېناست ، له هغه يې پوښتنه وکړه: ايمل خان زويه څنګه يې؟

ايمل خان غلی وو څه يې نه ويل ، څارنوال د هغه لاس ونيو بيا يې پوښتنه وکړه:

ـ زويه په هغه شپه څه وشوه ؟

ايمل خان ويريدلی وو ، له سترګو يې اوښکې بهيدې

شونډې يې خلاصې شوې ،څوځلې يې اوويل:

ـ باز ، ګوډ باز!

څارنوال پوښتنه وکړه: زويه ګوډ باز څوک دی ؟

ـ ګوډ باز قاتل دی هغه زما مور اووژله.

څارنوال بله پوښتنه وکړه: زويه څنګه يې اووژله؟

ايمل خان هغه ته اوويل: په هغه شپه باز زموږ کور ته راغلی وو ، زما مور يې په چاړه اووهله ، کله چې ما هغه وليد نو زه يې هم په چاړه اووهلم ، په ژړا شو سلګو ونيوو ، څارنوال د هغه په سر لاس تېر کړ هغه ته يې اوويل: سمه ده زويه ژاړه مه يوه شيبه غلی وو بيا يې پوښتنه وکړه:

ښه تا باز مخکې پېژندو؟

ايمل خان هغه ته د باز پيژندلو ټول جريان اوويل.

وروسته يې د سورګل خبره ورته وکړه ، چې هغه دوکاندار سورګل د باز ملګری دی او د هغه دوکان يې ورته وښود.

څارنوال له ځايه پاڅيده د باز نيولو امر يې وکړ.

پوليسو هغه ځايونه ولټول ، چېرته چې باز ګرځيده خو پيدايې نه کړ ، وروسته يې سورګل ونيو څارنوال سورګل ته مخامخ کيناست ، له هغه څخه يې پوښتنه وکړه: ـ ته باز له کومه پېژنې ؟

سورګل اوويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**باز ، باز څوک دی؟ زه يې نه پيژنم.**

**څارنوال مېز په لاس اووهه ، په غوسه شو هغه ته يې اوويل: ګوره سورګله ستا غونتي خلک زه ډېر ښه پيژنم دروغ مه وايه ، که دې هرڅه راته صفا صفا ونه ويل نو بيا زه پوهېږم چې څنګه دې په خبرو راولم او بله دا چې قضيه درته جوړوم ، چې ته له باز سره په هر جرم کې شريک يې.**

**سورګل وډار شو ، هغه اوويل: څارنوال صيب يوه ورځ زما دوکان ته باز راغلی وو ، نور ملګري هم ورسره وه دې وخت کې دوکان ته د ښاروالۍ مامورين راغلل زما دوکان جواز نه درلودو ، د بندولو امر يې وکړ ، باز د دوی په وړاندې ودريد ، هغوی ته يې اوويل ، چې تاسو دوکان نه شئ بندولی ، دا دوکان زما دی ، يو چاته يې زنګ اووهه شيبه وروسته د ښاروالی مامور ته زنګ راغی ، تليفون کې وغږيدو کله چې تليفون قطع شو نو باز ته يې اوويل: ـ ښاغليه ما تاسو نه پيژندی ، له هغه څخه يې بخښنه اوغوښته ، د ښاروالی کارکونکي زما له دوکانه اووتل په دې سره باز زما ملګری شو هره ورځ به دوکان ته راتلو.**

**څارنوال پوښتنه وکړه باز چېرته اوسيږي؟**

**سورګل غلی وو.**

**څارنوال مېز د قلم په څوکه اووهه ، پوښتنه يې بيا تکرار کړه.**

**سورګل د باز اوسيدو ځای په اړه معلومات ورکړل**

**پوليسو د هغه د نيولو لپاره عمليات پيل کړل د باز ځای يې پيداکړ.**

**د هغه له کوره تاو شول ، باز تلويزيون ته ناست وو په تلويزيون کې د امېرخان (سکرېټ سوپر هيرو فلم) لېريدلی وو ، هغه ورته ځير ځير کتل.**

**د باز ساتونکو غږ کړ: قومندان صيب پوليس!**

**هغه زر له خپله ځايه پاڅيد ، د ريموټ بټن يې اووهه تلويزيون يې خاموش کړ ، په کړکي کې يې وکتل د کور مخې ته يې پنځه رنجرې ولاړې وې.**

**په خپلو ساتونکو يې غږ کړ: ګورئ ډزې ونه کړئ ، ځانونه تسليم کړئ!**

**کسانو يې هغه ته اوويل:**

**ـ په جينی څه وکړو؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**باز جینۍ ته وکتل ، هغه یې په څوکۍ کې کینولې وه. لاسونه او پښې یې تړلې وې.**

**هغه ژر منده کړه دوسمال یې راواخیست ، د څانګې په خوله یې کېښود هغه بې هوشه شوه.**

**باز خپلو کسانو ته امر وکړ: جینۍ لاندې زېرزمینی ته یوسئ هلته یې داسې پټه کړئ ، چې شیطان یې هم درنه ونه ګوري.**

**هغه د پولیسو مخې ته ورغی هغوی ته یې اوویل:**

**امر صیب دلته د څه لپاره راغلې یی!؟**

**پولیس اوویل: موږ ته ستا د نیولو امر شوی باید موږ سره حوزې ته لاړ شې.**

**باز وخندل**

**بیا یې اوویل: قومندان صیب ، نه رښتیا امر صیب ، ما څه کړي په کوم جرم زه باید حوزې ته لاړ شم ؟**

**پولیس اوویل: د دې پوښتنې ځواب به حوزې کې ترلاسه کړې.**

**د پولیسو مشر خپلو عسکرو ته امر وکړ:**

**کور تلاشي کړئ ، هرځای اوګورئ!**

**باز ورورېاندې شو ، هغه ته یې اوویل:**

**امر صیب تاسو زما کور نه شئ تلاشي کولئ!**

**پولیس وخندل ، هغه ته یې اوویل: موږ له چا اجازه نه غواړو ، کور به تلاشي کوو ، که ستا زړه ښه وي یا بد ، موږ ته امر شوی او ته باید قانون ته درناوی ولرې.**

**باز وخندل هغه ته یې اوویل: یوه شیبه !زه اوس اوګورم چې ته څنګه په ما قانون پلی کوې**

**ژر یې تلیفون راواخیست ، غوږ ته یې نږدې کړ یو چا سره یې خبرې شروع کړې:**

**بلې قومندان صیب ، څنګه یې؟**

**په تلیفون کې یې په زوره وخندل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نه قومندان صیب ، خو یو کوچنی مشکل وو ، عسکر راغلي ، غواړي چې زما کور تلاشي کړي او وايي چې زه باید حوزې ته ورسره لاړ شم.**

**له هغې خوا ډېر غبر راغی ، باز ته یې اوویل: ته ورکړه تلیفون! چې دا څوک دی؟**

**باز ټلیفون د پولیسو امر ته ورکړ.**

**امر ټیلیفون غوږ ته نږدې کړ:**

**ـ بلې څوک یی ؟**

**له هغې خوا پرې غبر شو: قومندان ذکي.**

**د امر رنګ سور شو ، ژر یې اوویل:**

**قومندان صیب څنګه یی؟ امر کوئ ،څه خدمت وکړو ؟**

**قومندان ذکي هغه ته اوویل: د باز کور تلاشي نه کړئ او هغه حوزې ته یونسئ!**

**د پولیسو امر ژر په عسکرو غبر کړ:**

**ـ د کور تلاشي مه کوئ**

**ـ ټیلیفون کې یې اوویل سمه ده قومندان صیب په سترګو ، نور څه خدمت وي؟**

**تلیفون قطع شو باز ته یې ورکړ ، هغه خپلو پولیسو ته امر وکړ: سره راټول شئ حرکت کوو!**

**باز وخندل ، پولیس ته یې اوویل: څنګه دا د قانون په کومه ماده کې شته چې په یو تلیفون دې عملیات کنسل شي؟ګوره ښه د باز په مخکې د قانون خبرې مه کوه ، زما په وړاندې قانون مانون انتن نه ورکوی.**

**او که موږ سره چای څکئ بیا نو راځی ، باز میلمانو ته د سترګو په منځ کې ځای ورکوي**

**د پولیسو امر هغه ته وکتل ، شونډې یې وخوځیدې ، هغه ته یې اوویل: له مانه خو د یو خاین په لاس وژغورل شوې له خدایه به دې څوک ژغوري ، په هغه ورځ چې ټول انسانان د هغه پر وړاندې راټول وي ، ته به هلته څه کوې!؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پولیس سره راټول شول ، رنجرو ته وختل د رنجرو تر شاه خړې دوړې جګیدې ، په ګردونو کې پناه شوې.**

**د باز یو کس هغه ته مخامخ ودرید په لوړ غږ یې اوویل: ـ واه قومندان صیب واه ، نن خو ته وژغورل شوې.**

**ټولو سره وخندل ، باز په برېټو لاس تېر کړ شونډې یې وخوځیدې ، ویې ویل: په دې سیمه کې چې باز وي ، مچ هم د هغه له اجازې پرته هوا ته نشي پورته کیدی ،ټولو وخندل ، یوکس اوویل:**

**قومندان صیب په هغه جینی څه وکړو ؟**

**باز اوویل: نن یې څوومه ورځ ده ؟**

**دوی ځواب ورکړ: دوولسمه**

**باز بیا اوویل: زړه مو غواړي چې دیارلسمې ته یې هم پرېږدو!؟**

**کسانو یې اوویل: قومندان صیب ستا امر ته په تمه یو.**

**باز هغوی ته اوویل:**

**ـ کار یې خلاص کړئ!**

**د کاله په بر سر کې یې یوې کوټې ته لاس اوږد کړ کسانو ته یې اوویل: هغه کوټه ګورئ ، د هغې کوټې په منځ کې ژورې کندې ته یې ګذار کړئ ، چې د قیامت په ورځ هم نه شي راپاڅیدئ.**

**ټولو اوویل: سمه ده قومندان صیب.**

***

**لس کاله وروسته:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**باز تلويزيون ته ناست وو ، په تلويزيون کې د فرار از زندان سريال شروع وو کوټه د سيګرټو لوګو نيولې وه**

**د ډزو اوازونه شول ، د هغه يو کس په منډه کوټې ته ورغی ، هغه ته يې اوويل:**

**قومندان صيب پوليس ، پوليس!**

**باز وخندل ، په برېټو يې لاس تېر کړ ، کسانو ته يې امر وکړ ډزې مه کوئ ، پرېږده چې راشي د پوليسو مخې ته ورغی ، په لوړ غږ يې اوويل:**

**ـ لکه چې چکر ته مو زړه شوی يا مو د کور چرګان وږي شوې د دانو اخيستو لپاره راغلې يی ، که څنګه دې خوا غلط شوې ياستی؟**

**د رنجرې له مخکې سيټ څخه دنګ ځوان ښکته شو تورې چشمې يې له سترګو لرې کړې ، غټې شنې سترګې ، سپين پوستکی او خړ ويښتان يې درلودل.**

**د باز په لور يې قدمونه واخيستل ، باز ته يې اوويل:**

**ـ تا به پخوا چرګانو ته دانې ورکولې ، اوس وار رارسيدلی چې د خپلو دانو بدله درته زه در کړم.**

**باز وخندل ، قومندانه! ستا غونتې چرګان زما بدله نشي راکولی!**

**قومندان د باز لاس تاو کړ ، له خولې يې چيغه ترې اوويسته.**

**باز اوويل:**

**ـ ته ما پېژنې چې زه څوک يم؟ د دې کار حسابي درسره خامخه کوم.**

**قومندان په خندا شو ، باز ته يې اوويل: تاخو زه پېژنم چې د يوڅو ګيداړانو مشر يې او له يو څو غټو ګيدړانو سره اړيکه لرې ، خو ته ما نه پېژنې ، چې زه څوک يم؟**

**باز اوويل: قومندانه چې ته هرڅوک يې د خپل ځان لپاره به يې ، باز تراوسه پورې خپل پلار ته هم ټيټه نه ده ويلې ، ته نو بيا څوک يې!؟**

**قومندان موسکی شو ، هغه ته يې اوويل:**

**ـ بازه دا ځلې ته تېروتی يې ، ته له داسې چا سره اوختی يې ، چې پوره لس کاله يې له تاڅخه د غچ اخيستو اور په زړه کې بل وو ، نن به په دغه اور يخې اوبه توی کړم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**باز هغه ته وکتل ، ویې خندل.**

**قومندان هغه ته اوویل:**

**ته پوهیږې چې زه څوک یم!؟**

**زه ایمل خان یم ، ایمل خان**

**هغه چې لس کاله وړاندې تا ورڅخه مور او خور واخیستل.**

**د باز سترګې رډې وختې د مخ رنګ یې تور شو ، هغه ته یې اوویل: ته خو ما وژلی وې ،نو بیا دلته!؟**

**ایمل خان اوویل: زه ستا د وژلو لپاره ژوندی پاتې شوم او دلته ستا د وژلو لپاره راغلی یم.**

**اوس اووایه چې خور مې چېرته ده؟**

**باز وخندل هغه ته یې اوویل:**

**څه! خور دې ، خور دې یادوې!؟ هغه هلته کوټه کې ده.**

**ایمل خان د کوټې په لور منډه کړه**

**په ژاړه شو چیغه یې کړه! خورې زه راغلم ، ایمل خان ورور دې راغی.**

**باز لاندې لاس وغځوه د بوټ څخه یې واړه توپانچه وویسته ، د ایمل خان په لور یې ونیوه ، یو پولیس هغه ته پام شو په باز یې ډز وکړ ، هغه په مټ ولګیدو توپانچه یې له لاسه ولویده.**

**په ډز سره ایمل خان شاته وکتل ، خو ونه درید کوټې ته ننوت کوټه کې یې غږونه کړل:**

**ځانګې خورې! خورې ته چېرته یې ؟**

**زه یم ، ایمل خان.**

**خو چا غږ نه کوه ایمل خان له کوټې څخه د باندې اووت له بغل څخه یې توپانچه واخیسته ، د باز په لور روان شو.**

**باز په زوره خندل: ایمله بچو خور دې پیداکړه؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ایمل خان له ډېرې غوسې سور اوښتی وو ، باز ته ورنږدې شو چیغه یې کړه!**

**قاتله خور مې چېرته ده؟ په هغې دې څه وکړل؟**

**باز په مسخره یې ډول هغه ته ویل:**

**ـ خو کوټه کې ده کنه ، قسم دی چې کوټه کې وي.**

**ایمل خان بیا کوټې ته منډه کړه ، کوټه کې یې څوک پیدا نه کړل.**

**هغه باز په ځمکه ګذار کړ ، د باز په ټټي ځای یې پښه کېښوده ، په هغه یې چیغه کړه: اووایه خور مې چېرته ده؟ کنه مغزه دې شیندم.**

**باز سترګې ورپورته کړې ، ایمل ته یې اوویل:**

**ـ خور دې کوټه کې ده ، خو که غواړې ځان سره یې بوځې ژوندی یې نشې بیولی ، یوازې هډوکي به یې له ځان سره یوسې ، موږ هغه راوسته څو شپې مو وساتله خو نور یې موږ میلمه پالنه نه شوای کولی ، کوم ځای ته چې باید تللی وای هغه ځای ته مو ولیږله.**

**د ایمل خان له سترګو اوښکې راغلې ، په باز یې د سوکانو او لغتو ګذارونه وکړل ، په هغه یې چیغې کړې:**

**ـ قاتله زه تا ژوندی نه پرېږدم**

**پولیسو ایمل خان ونیو ، هغه ته یې ډاډ ورکوه او د ارامیدو سپارښتنه یې ورته کوله**

**ایمل خان څو شیبې له ټولو لرې ولاړ وو ، باز د رنجرې ټایر ته تکیه وهلې وه ، لاسونه یې شاته تړل شوي وه له خولې یې وینې بهیدې.**

**هغه ایمل خان ته غږ کړ: راشه چې له نورو دې خبر کړم.**

**یو پولیس ورورځاندې شو ، هغه ته یې اوویل: خوله دې بنده کړه.**

**باز اوویل:**

**ـ زه غواړم له ایمل خان سره خبرې وکړم.**

**پولیس ایمل خان ته ورغی ، هغه ته یې اوویل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ـ قومندان صيب مجرم کس غواړي له تاسره خبرې وکړي. ايمل خان ورغی د هغه مخې ته کېناست ، باز هغه ته اوويل:**

**ـ ايمل خانه واوره ، چې له نورو دې خبر کړم ، په دې خو ته هم پوهېږې چې مور او خور دې ما دوزخ ته لېږلې خو په دې نه پوهېږې ، چې پلار او تره دې چا دوزخ ته لېږلي؟**

**ايمل وروړاندې شو ، سترګې يې له قهره ډکې وې ، هغه ته يې اوويل: ستا مطلب څه دی! غواړې چې څه اووايې؟**

**باز په خندا شو ، هغه ته يې اوويل: پلار او تره دې هم ما دوزخ ته لېږلي ، مطلب دا چې ما وژلي ما.**

**ـ کله دې چې تره له کابل څخه راتلو په کوم موټر کې چې هغه وو ، ډرايور يې زموږ کس وو ، هغه موږ ته زنګ اووهه ، چې غوښه مو دروان کړي همملته ودرېږئ ، چې درته ويې سپارم ، له غوښې څخه يې مطلب ستا تره وو ، کله چې سيدکرم ته راورسيدل ، موږ په لاره کې ورته مخکې شوو ، هغه مو نه وژلو خو ډېر شالا انسان وو ، هغه په موږ ډزې وکړې ، زما بل ملګری يې ټپي کړ ، وروسته مو هغه ونيو او په دا سر سر مو اوويشت ، په لاره کې د پوستې کوم قومندان چې وو هغه سره ما معامله کړې وه ، داسې چې هغه به ماته خنډ نه جوړوي او زه به ورته هره ورځ د ترلاسه شوې مال نيمايي برخه ورکوم.**

**او پاتې شوه د پلار خبره دې ، کوم بم چې په جومات کې والوت هغه ما طالبانو ته د پنځه ويشت لکه کلدارو په بدل کې ځای پر ځای کړی وو ، او په هغه جومات کې ستا بدبخته پلار هم وو ، چې اسمان ته يې وزرې پورته شوې.**

**ايمل خان په ژړا وو هغه ته يې ويل:**

**قاتله، قاتله دا ته څنګه انسان يې په اوجود کې دې زړه دی که کوم بل څه دي!؟**

**په لاس کې يې توپانچه وه له ډېرې غوسې يې لاسونه رپيدل ، د توپانچې ماشه يې کش کړه.**

**باز چيغې کړې!**

**ـ نه ، ته ما نشې وژلی ، زه غواړم د قومندان ذکي سره وغږېږم.**

**ايمل خان اوويل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ ستا وخت پای ته ورسيد عزرايل نن ستا مېلمه دی ، او په جهنم کې به د قومندان ذکي سره وغږېږی.

له عسکر څخه يې د باز توپانچه واخيسته ،د باز په سر يې ونيوله ، هغه ته يې ويل:

ـ ته قاتل يې د ډېرو انسانانو په وينو دې لاسونه سره دي د ژوندی پاتې کيدلو وړ نه يې ، که ستاسو غونتې انسانان په نړۍ کې نه وای ، دنيا به د مينې ځای وو، ژوند به له محبته ډک وو.

د توپانچې ماشې ته يې فشار ورکړ ، په ځمکه درب شو

سړی اوغورځيد ،.د باز له بدن څخه ساه اووته

ايمل خان غږ کړ: عسکره!

عسکر په منډه ورغی: امر کوه قومندان صيب!

ايمل خان هغه ته اوويل:

د دې سړي په دوسيه کې وليکه چې د پوليسو له ورتللو مخکې يې ځان وژنه کړې وه.

پوليس اوويل:

سمه ده قومندان صيب ، امر مو پرځای کيږي.

ايمل خان د کوټې پر لور لاړ ، د کوټې تل يې رابرسېره کړ د انسان هډوکي او کوپړۍ پکې پراته وه.

د کوپړۍ لاندې د اوسپنې سپين ځنځير وو.

ايمل خان ديوال ته تکيه اووهله.

د ځنځير په ليدو تېر وختونه ورياد شول ، د ځانګې هغه خوشحالي چې ده ورته ځنځير ورکړی وو ، ورياده شوه له سترګو يې اوښکې بهيدې.

د ځانګې هډوکي يې له ځايه ټول کړل، د پلار، مور او تره قبرونو ترڅنګ يې ښخه کړه.

ايمل خان د دوی په قبرونو ودريد او ويل يې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ ځانګې، مورې، پلاره، کاکا نن ما ستاسو قاتل اووژه. زه پوهېږم چې نن به ستاسو روحونه ارام شوې وي.

# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درنو لوستونکو!!!

خپلې نیکې مشورې مو په لاندې ادرسونو را سره شریکولی شئ:

د موبایل شمیره - ۰۷۷۰۱۶۷۱۱۱

فېسبوک پاڼه - Faizullah Amin

واټس اپ شمیره ــ ۰۷۷۰۱۶۷۱۱۱

ایمیل ادرس – Aminafghan1999@gmail.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**